Nov. – Dec. 1964

علمي اجتماعي او ادبي

لينده ٥ (١٣٤٣) لمرنی کال د (١٩٦٤) عيسوی کال نومبر او دسمبر

شمير	مضمون	ليکوال	مخ
١	سرتېر سپاهي او مجاهد شاعر	دبناغلي سيفي ترجمه	١
٢	درامپور درضا کتابخانې ...	پوهاند رشتين	١٤
٣	دشوروی اتحاد سفر	بناغلي عبدالله بختاني	٢٥
٤	دپښتو شعر اوادب ...	بناغلي واسعي	٤٧
٥	دافغانستان دملي ژبې ...	دبناغلي معتمد ترجمه	٤٦
٦	په پښتو ادب اوشاعرۍ ...	خان غازي کابلي	٦٧
٧	د پښتو لرغوني نثر	پوهاند رشتين	٦٩
٨	ارمانجن مين	محمدمومن پټوال	٧٦
٩	راغلي ليکونه	اداره	٧٨

امتياز — دپښتو ټولنې

مشر — پوهاند رشتين

وکيل: چلوونکی — محمد مومن پټوال

نومیالی پوهان

د کراچی د جنګ «نومی» ورځپاڼی څخه :

د پروفیسر سلطان احمد په قلم :

د عزیز الرحمن سیفی
ترجمه

سر تېر سپاهی او مجاهد شاعر

خوشحال خان خټک

خوشحالخان خټک

لکه چه د تاریخی پلټنو څخه څرګندېږی له ډېرو پخوانو وختونو څخه د استعمار او اسارت له منګلو څخه د نشر د خلاصولو په لار کښی ادب ډېر مهم رول لوبولی دی، او همدې ادب د ماحول د شرطونو سره سم لکه د نورو موضوع ګانو په لړ کښی داسی افسانی او قصی هم لیکلی دی چه په هغو کښی ئی د خلکو د فکرونو د تنویر او روښانه کولو او خپلو مظلومیتونو ته د هغو د فکرونو د راګرځولو د پاره د ډول ډول ظلمونو او تکلیفونو ذکر او بیانونه کړی دی او په هغو کښی یې په ضمنی او کنائی ډول داسی اصلاحی هدایتونه د خپل فکر او قلم په زور ځای کړی دی چه د هغو په اثر په خلکو کښی د وطنیت او حریت شعور پیدا شوی دی او کله یې په ځینو افسانو کښی د پردو حکومتونو په مقابل کښی

په ډېره ادیبانه پیرایه د جنګ او مقابلې خوا ته خلکو ته بلنه ورکړې ده نو په دې اساس کومو ادیبانو او لیکوالو چه د دغه مرام د تر سره کولو د پاره دا ډول ادب تخلیق او را پیدا کړی دی هغوی د حب الوطنۍ یعنی د خپل وطن سره د مینې په میدان کښې د سیاسی قائدینو او مدبرانو څخه کم نه دی بلکه په دې لحاظ چه هغو په خلکو کښې دغه مفکوره را پیدا کړې او دغه جذبه ئې په هغو کښې راژوندۍ کړې ده او پدی لحاظ چه د هغو د فعالیت د پاره یې زمینه برابره کړې ده له هغو څخه ډېر زیات دی .

ادیبان او لیکوال هغه خلک دی چه دوی د خپلو خوږو عبارتونو او د جوش نه دې کونغمو په ذریعه خلک راپورته کوی او د خپلو دغو نغمو او ولولو د بیرغ سره اول دوی میدان ته راګډېږی ، او همدا سبب دی چه د آزادۍ تاریخ یې د دې خلکو د ذکر څخه بشپړ او مکمل تاریخ نه شی ګڼل کېدلای .

د خپل ادبی قوت په لحاظ خوشحال خان خټک د آزادۍ په مجاهده کښې د خپل وخت او زمانې یو پیاوړی شاعر او سر تېر سپاهی او عسکر او د تحریر او بیان او همت او شجاعت له مخې د خپل وخت یو بې ساری لوړ شخصت دی چه په اووه لسمه (۱۷) پېړۍ کښې تېر شوی دی د پېښور په شمالی او د کوهاټ او بنو په ډېرو سیمو کښې خټک نومې قبېله پرته ده چه په هغه وخت کښې د دې قبېلې شمېر د ډېر شو زرو نه زیات اټکل شوی دی او دا پیاوړی شاعر او سر تېر سپاهی او پوه قائد د دې قبېلې مشر او د خپل عصر منلی لیکوال او ادیب ؤ ، د ده کلام د قومی نظمونو ، بدلو ، سرګذشت او تاریخ څخه عبارت دی او همدغه شیان د ده د کردار او پښتونولۍ او حب الوطنۍ رښتینی او ښکلی هنداره ده ، د خوشحال خان خټک کلام د دغه پیاوړی شاعر د قوی عزم پخی ارادې او استقلال او د خپل وطن د آزادۍ سره

دمینی ښکاره نماینده او منلی شاهد دی او دا هغه انقلابی شاعر دی چه دده دانقلابی پیغام په ترڅ کښی کله کله دده د ژوندانه دکیفیت ځلاند ستوری هم خپلی پلوشې څرګندوی .

د دې پیاوړی شاعر د یو نظم مطلب دا دی :

« راشیء او زما هغی قصې ته غوږ ونیسیء چه په هغی کښی ما ښه او بد دواړه په واضح ډول څرګند کړی دی ، زما په دغه لیکنه کښی تصورات هم شته او داسی مثالونه هم چه دعقل او پوهی د خاوندانو دپاره قیمتی پانګی دی ، زه هغه خوشحال خان یم چه زما په رګو نو کښی د تېر و پخوانو سر تېرو پښتنو وینه موجونه وهی زما پلار دهغه یحیی خان زوی شهباز خان دی چه په فکر او تدبیر او مېړانه او زړور تیا کښی ئې ساری نه درلوداو « اکوړی » نومی ځای د ده ټاټوبی ؤ ، هر کله چه به ده توری ته لاس کړ او میدان ته به یې ورودنګل نو خلک به یې نندارې ته ګوته په خوله ولاړ ؤ او چه لیندې ته به یې لاس کړ نو خلکو ته به یې دغشو ویشتلو جوهر ورڅرګند کړ که دښمن به د ده مقابلې ته راوووت نو له دغه ځای څخه به نیغ قبر ته روانېده .

دی سر بېره په دغو صفتونو ډېر ډوډی ماراو مېلمه پالونکی یعنی دتوری اوقلم اوارت دسترخوان خاوند ؤ ، دده ملګری هم ډېر وفادار اوسر تېری اوزړ ورخلک ؤ اوچه وخت به راغی نوسرونه به یې په تلی کښی نیولی اودجنګ ډګر ته به ئې ورد نګل اوهمداد دوی دوفاداری او مېړانی جذبې وې چه دوی قبرونو ته دوینو په سروجامو کښی ولاړل اودشهادت جامونه ئې وچښل» هر کله چه دخوشحال خان دکور کهول خلک ډېر یعنی د ده اولادونه زیات شول نو په دوی کښی د ډېرو

پیاوړو او داسی لایقو خلکو شمېر هم ډېر او زیات شو چه خپل کار و نه به ئې په ډېر ښه شان پوره او تر سره کول او دهمدې کار نتیجه وه چه دنیکنامی ګټل دوی ته ډېر آسان کار ښکار پده، زه دخپلی کورنی په دغه محیط او ماحول کښی په ۱۰۳۳ھ کال کښی پیدا شوم تر یوې مودې پوری اکبر مغل بادشاه دخوشحال خان دقبیلې سر پرستی او پالنه کوله لکه چه په دې لړ کښی ئې دده دورنیکه «اکوړی» ته دهغو بېړیو محصول ورکړی و چه په اباسین کښی به داټك په ګودر کښی چلېدلی او لکه څنګه چه «اکوړه» ته داکبر له خوا ددغه محصول داخیستلو اختیارات ورکړای شول همدغه راز دده نه وروسته دده زامنو یحیی خان او شهباز خان هم له دغه ګودر څخه استفاده کوله.

که څه هم دخټکو او یوسف قبیلو په منځ کښی له پخوا څخه دښمنی موجوده وه لیکن په ۱۶۴۱ ع کال یعنی دشاه جهان په دوره کښی دد ې دواړو قبیلو په منځ کښی دجنګ اورو نه بل شول او په دې جنګ کښی دخوشحال خان پلار مړ شو او دپلار دمړګ نه وروسته خوشحال خان دخپلی قبیلې مشر وټاکلای شو په دې وخت کښی دشاه جهان له خوا دهغی لارې نګرانی هم ده ته وسپارلای شوه چه داټك نه پېښور ته تللې ده لیکن داورنګ زیب په وخت کښی چه درفاه عامه یعنی دعمومی ښېګړو دمځکو څخه محصول پورته کړای شو نو په دغه لړ کښی دګودر د بېړیو محصول هم دمنځ نه ولاړ، داورنګ زیب دا کار یوازی دخوشحال خان دمالی نقصان سبب نه شو بلکه دې کار د ده وقار ته هم پوره صدمه ورسوله، اورنګ په دې کار هم زړه سوړ نه شو بلکه دپېښور او مغلی ګورنر دده په مقابل کښی دیوسف زو قبیلی په لاس کښې ونیولې او خپله ټوله پاملرنه ئې دیوسف زو خوا ته

وګرځو له لیکن خوشحال خان په ډېره حوصله ددې ناکرد ونندا ره کوله تردې چه دغه مغلی ګورنر په ۱۶۶۴ ع کال کښې خوشحال خان پېښور ته راوغوښت او په چل او فریب ئې دی ونیو او په پنځه منیزو درندز و لنو کښی یې دې تړلی ډیلی ته و لېږه ، ده د ډیلی «رنتهبور» په بندی خانو کښې درې کلو نه بند تېر کړ او دقید په دغو ورځو کښې ئې دجوش نه ډك ډېر شعر ونه ولیکل په دې نظمو نو کښی ده داور نګ زیب دظلمو نو او ناکردو په لړ کښې دخپلی بد قسمتی او دخپل ملك په بد حالی هم ډېر ویرونه کړی دی ، له دې ماتمی او ویرجنو نظمو نو څخه یو نظم په دې د تاثیر نه ډك او ولوله راپورته کو و نکی نظم چه ددغه تاثیر اندازه تاسی ددغه شعر له دې مطلب څخه اټکل کولای شی .

زه هغه یم چه هغه داور نګ زیب زړه ژو بل او زخمی کړ ، ما دخیبر له درې څخه دمغلو دپاره یو داسی قیمتی شی جوړ کړ چه ددې درې په یوه یوه لوېشت ځمکه هغوی په لمنو لمنو دولتو نه او ډېر سرونه ښندی او خلکو ته بډی اورشو تو نه ورکوی ، او دمړو اندازه ئې دشمېر نه وتلې ده دوی د هندوستان خزانې په خیبر کښې دخلکو په په پښو کښې نولی او یا په بل عبارت دمغلو سره زر زمو ږ دغرو نو مخصوص خوراك دی مګر ددې ټولو مصیبتو نو سره په دوو شیا نو زه د خپل پاك خدای ډېر شکر کوم او ل په دې چه زه یو پښتو ن یم او دوهم په دې چه زه خوشحال خټك یم .

لیکن په دې لړ کښی یو وخت داسی هم راغی چه ده داور نګ زیب سره روغه وکړه او په ۱۶۶۶ ع کال کښی دی ډیلی ته بېر ته راو ستلا ی شو او تر ۱۶۶۷ ع کال پوری دی دخپل زوی اشرف خان سره دمغلو

په عسکر کښې شامل شو او داکار ده یوازې ددې دپاره وکړ او یا په بل عبارت دغه دمغلو عسکري منصب ئې ځکه قبول کړ چه د خپل دې کار په اثر دې دیو سف زو څخه دخپل پلار بدل واخلي او خپله دغه هیله تر سره کړي او بله داچه په دې ترتیب دې ځان د قید څخه خلاص کړي او په دې ترتیب خپل ځان دنورو فعالیتو نو دپاره برابر او چمتو کړي لکه چه ده په دغه وخت کښې په یوسف زو یرغل وکړ او دخپل پلار بدل یې واخیست .

لیکن بو داسې شخص چه تل د آزادۍ لولې دهغه په سینه کښې غور ځنګونه وهي دهغه زړه کله دفریب په دې ډول لو مو کښې ګیر پدلای شي لکه چه ده په دې لړ کښې « اکمل » نومې قبیله د خپل ځان سره ملګري کړه او په غرونو کښې ئې دنورو قبیلو په مرسته داورنګ زیب په مقابل کښې د بغاوت توغ پورته کړ ، هر کله چه دتورې نه دده د قلم قوت او قدرت ډېر زیات ؤ نود قلم په زوریې دقبا ئلو په زړو نو کښې دجوش او رونه بل کړل او د خپل قلم په زوریې دهغو جذبات راویښ او د هغو احساسات یې راور پارول او په دې ترتیب ئې په ډېر و ځایو کښې د مغلو لښکرو ته ماتې ورکړه که داسې موقع به پېښه شوه چه دقبیلو خلك به دمغلو د لښکر و په مقابل کښې لږ وډېر سست شول نو په دغه وخت کښې به خوشحال خان یوازې د آزادۍ توغ پورته کړ او په ځان له به په مقابله بوخت شو ، موږ داحقیقت په ډېره صریحه لهجه څرګند ولای شو چه د خوشحال خان ټول عمر داورنګ زیب سره په شخړو او مقابله کښې تېر شوی دی که په یو وخت کښې خوشحال خان دمغلو دلښکرو په بیخ ایستلو کښې بوخت لیدلای کېږی نو په بل وخت کښې دغه

د آزادۍ پتنګ دخپلو یو څو تنو ملګرو سره یوې خوا بلې خوا ته سر وهلې برو هلې لا لهاند او پریشان لیدلای کېږی ، یوځل دده زوی دیو څو تنو نورو ملګر وسره دخپل پلار نه ولاړ اود مغلو سره ملګری شو ددې کرغېړنی بېښی په شا او خوا کښی خوشحال خان حپل تاء ثرات او خپګان داسی څرګندوی .

زه د ورنګ زیب دښمن یم که څه هم هغه زما سر غوڅ کړی او په غرو نو کښی ئې وغورځوی او که په ښکلو بنګلو کښی او یا په نورو ځا یو کښی لیکن سره ددې ټولو خبرو به زه د پښتون قام د نوم او پت او ددوی د آزادۍ دپاره تل دغه ډول مجاهدې جاری ساتم، کوم خلك چه دمغلو سره ملګری شول هغوی لالچی خلك دی او هغوی داکار دمنصب اومال دپاره کړی دی ځینی دا ډول لالچی اووږی بې خونده خلك دمغلو د سترخوان ته لکه دوږو سپو غوندی ورځغلی او بیا په ماپسی غا پی او غوټې را باندی کوی ، که څه هم زه همدغه ډول کار کولای شم اوددې ډول ټیټو کاورنو په ذریعه مال او منصب ګټلای او لاس ته راوستلای شم مګر په دې ډول ټیټو کار ونو زه د پښتو نولۍ پا که لمن نه شم ککړو لای خوشحال خان مغلو ته په ډېرو جنګونو کښی ماتی ورکړی ده اوددې ډېرو ماتو په ورکولو دخوشحال خان ملګری دومره مغرور شول چه هغوی دمغلو سره په ګډه سره جنګونه پرېښوول یعنی منظم جنګونه ئې پرېښودل او په انفرادی ډول چه په اصطلاح کښی ورته « ګوریلا » جنګ ویل کېږی ګو تې پورې کړې په دې انفرادی «ګوریلا» جنګ ددوی په اتحاد او یووالی کښې کمزورتیا پیدا شوه او په دې ترتیب کښې د دوی دیو بل سره دمرستی موقع دمنځ نه ولاړه او ددې کار په اثر دوی د ماتی سره

مخامخ شول، خوشحال خان ددې بدلېد و نکو حا لا تو نه و رو سته
دیوسف زوپیاوړی اوقوی قبېلې ته ور غی او په د ې لا ر کښې ئې
چه دا پیاوړې قبېله دځان سره په جنګ کښې ملګر ی کړ ه د یوې
خوادده ځینو دوستا نو په یوسف زو کښې دده سره درو غی او پخلا کولو
دپاره خپل کوششونه جاری ساتل اوله بلې خوا به د ه د یوسف زو
داحساساتو او جذ باتو در اپار ولو دپاره داور نګ زیب بداو د خپلو
کامیابیو په بیان پیل کاوه، ده به په خپلو خوږو ونیاګا نو کښې د
او ر نګ زیب دد ښمنۍ نه ډکې پالسۍ تفصیلونه بیا نو ل او په دې
وسیله به ئې دهغو په زړونو کښې د جوش د را پیدا کولو کو ښښ
کاوه اوخلکو ته به ئې دا حقیقت ښر ګند اوه چه ستا سې د بقا او
ژوندانه راز داور نګ زیب سره په جنګ ا و د هغه په ور که کښې
پټ او مضمر دی په دې مو قع کښې خوشحال خان یونظم و یلی دی
چه دا نظم د هغه د زړه د در د رنو او هیلو ډېر ښه تر جما ن دی
او ددغه نظم لنډ مطلب دا دی:

دپسرلی دا موسم چه دملک او وطن څخه ئې د ګلا نو تخته ا و
تا بلو جوړه کړې ده د کومه راغلی دی، په دې موسم کښې د همیشه
ګلا نو بوټی هم شته اوډېر شنه او سمسور بو ټی هم په د ې مو سم
کښې دسوسن او کشمالیو ، چمبېلی ، نرګس او انا رو او نو ر ډېر
ښکلی ګلان غوړېد لی دی، مګر په دې ټولو کښې د لاله یعنی ر یدی
دګل سور رنګ ډېر ښکلی ایسې، پېغلو نجو نو ښکلی ګلان په خپلو
سینو ټومبلی دی او ځلمو د ګلا نو غو نچې په خپلو بګړیو کښې ایښو ولی
دی، او موسیقارانو یعنی دموسیقی هنر مندانو خپل سازو نه سر کړی دی
دهریو تار څخه یوه یوه نغمه را باسی و ګو رئ چه دا موسم

څومره ښکلی او په زړه پوری موسم دی ، نو په دې وخت کښی ته هم
ای ساقی راشه او دجام سره راشه او دغه جام د شرابو څخه ډکوه
او ماته ئې راکوه او داد دې د پاره چه د شرابو په نشه کښی زما ستوما نه
او غمجن زړه لږه دمه جوړه کړی . دا هغه موسم دی چه په دې
په زړه پوری موسم کښی پښتنو ځلمو په نکریځو لاسونه سره کړی دی
او ما ته د دوی دغه سره لاسونه داسی ښکاری لکه چه باز د ښکار
په وینو خپلی پنجې سرې کړې وی ، دې ځلمو خپلی ځلاندی توری د دښمن
په وینو داسی سری کړی دی لکه څنګه چه د پسرلی په موسم کښی دریدی ګل
خپلی پاڼې سری کړی دی ایمل خان او دریاخان دوه داسی مشران
تېر شوی دی چه تل به د یو بل سره د خپل خپل زور وقوت په ازمیلو بوخت ؤ
هغو د خیبر دره په وینو سره کړه او په کړپه کښی د دوی د تورو
شرنګهار فضا په سر واخیسته او همدا په کړپه کښی د دوی د تورو
خرپ و چه تر باجوړ پوری ئی په دغو غرو نو زلزله راوستله ، پنځه
کلونه وړاندې په دی ځان کښی د تورو د خرپهار او شرنګهار انګازې
اورېدلې کېدلې او په دغه علاقه کښی د تورو بړکهار د خلکو سترګی
بریښولې ، مګر له کومی ورځی څخه چه زه د دغی سیمی څخه راوتلی
یم نو ځان راته یو مړی ښکار یږی .

اوس خو یا زه پخپله مړ شوی یم او یا هغه خلک مړه دی چه له
ما څخه ګیر چاپېره او شا او خوا ناست دی . دوی داسی مړه شوی دی
چه که زه دوی ته د ګیلې په ډول څه ووایم او یا ورته په چیغو چیغو
د غیرت ناری وو هم لیکن په دوی هیڅ تاثیر نه کوی ، دوی داسی
غلی ناست دی لکه چه کاڼه دی او هیڅ ئی نه دی ار وېدلی ، که
زه د یوسف زوله دې حالت څخه خبر وای نو ما به دې ځای ته د

راتللو څخه «د مغار(۱)» ته ترجیح ور کړی وای یعنی دمغور ته به تللی وای ، که دوی په خوله داخبره کوی او که نه ئې کوی لیکن حقیقت دادی چه دکندهار نه تر اټک پورې ټول پښتون یودی او د دوی ټولو عزت په یو بل پوری تړلی دی سره ددې ټولو خبرو تاسې وګورئ چه په هره علاقه کښې څومره جنګونه وشول مګر سره ددې په یوسف زو کښې هیڅ جوش راپیدا نشو. لومړی جنګ دغرونو شاته وشو او په دغه جنګ کښې څلوېښت زره مغل دتوری تیر کړای شول او ښځې ئې دپښتنو په لاس کښې بندیانې شوې او د دوی دآسونو او اوښانو او هاتیانو یعنې پیلانو ګلې پښتنو ولجه کړې

دوهم جنګ په دوابه کښې د «میر حسن» سره وشو چه په دغه جنګ کښې دهغه سر لکه دمارغو ندې وټکولای شو نه دې جنګ نه وروسته دریم جنګ د نوښار دکلا جنګ دی چه دغه جنګ دمغلو دسر نه د جنګ نشه داسې وایستله لکه څنګه چه ښکاریان ګیدړه دغار څخه را باسې د ېنه وروسته دجسونت سنګه او شجاعت خان وار راغې چه په ګنداو کښې ایمل خان دوی نه داسې ماته ور کړه چه ددوی سترګې ئې خلاصی کړې .

شپږم جنګ دمکرم خان او شمشیر خان سره وشو چه په دغه جنګ کښې هم ایمل خان په ډیره اسانتیا دوی مړه کړل

تر اوسه دخدای په فضل په هر جنګ کښې بری زموږ په برخه شوی دی او په آینده کښې موهم تکیه په خدای ده.

دتیر کال څخه را به دیخوا ورنګ زیب زموږ په مقابل کښې په مورچل کښې ناست دی لیکن سره ددې دی دومره پریشانه دی چه دده

(۱) شاید چه دا یه اصل کښې آدم غار وی

په تندی کښی د ده د پریشانۍ نخښی دلرې نه ښکاریږی، د ده ټول پیاوړی ملګری او لوی منصبداران په جنګ کښی د پښتنو د تورو خوراك شول او دومره عسکریان ئی ووژل شول چه د هغو اندازه لګول دوی نشی کولای دوی د هندوستان حزانې په دې سیمه کښی و شیندلې او د دوی د سروزرو اشرفۍ په دې غرونو کښی ورکی او تالا شوې، مګر سره د دې ټولو خبرو په دې خاوره د اسې هنګامې تیری شوې دی چه هیڅوك د دې خبرې اټکل او اندازه نشی کولای چه په دې خاوره به د غسی خونړۍ هنګامې تیری شوی وی

مګر د اسمان ګردش او د زمانې پیرونه حالات په یږدول نه پریږدی که زمانه په یو وخت کښی یو شخص د ګلانو لایق ګڼی نو په هغه داسی وخت هم راځی چه د اغزو لایق ګڼل کیږی مګر د غسی د خطرونه ډك وختونه د انسان د سر لوړی باعث او سبب کیدای شی او بی د عزت نه د پښتون بل شی نشی په کار ید لای، او که برته له دې خیال څخه کوم بل خیال ستاسی په مغزو کښی ځای نیولی وی نو همدغه شی او خیال ستاسې د بربادۍ، سبب دی دا خبری بی د توری د خولی څخه نوری خولی نشی فصله کولای او د توری په معامله کښی پښتانه د مغلونه ډیر جګ او غښتلی دی که پښتانه په اصل حقیقت ځانونه پوه کړی او د عقل او فکر او پوهی څخه کار واخلی او قبایل په خپلو کښی سره یوشی او دیو بل سره مرسته وکړی نو په دې صورت کښی به د کبر او غرور نه ډك ډیر سرو ئه لکه د غونډ سکی غوندی د دوی په پښو کښی ورغړی.

لیکن اختلاف او اتفاق او ځان ځانی او یوووالی او ناعاقبت اندیشی او مصلحت بینی ټول د خدای د قدرت په لاس کښی دی او هر چا او

هر قام ته ئی جلا جلا برخی ور کړی دی - تاسی وگوری، په داسی وخت کښی چه د مغلو لښکرو په «منگراهور» نومی ځای کښی دیره اچولی ده اپریدی او مومند او نور څه کوی او په داسی وخت کښی یوسف زی د خپلو مځکو په چارو په ډیره بیغمۍ بوخت دی، یوازی ما د خپل قام او خاوری د نوم او عزت او پت په لاری کښی ملا تړلی یوازې ولاړیم تاسی په دې حقیقت ښه پوه شی کوم خلک چه په یو داسی وخت کښی هم د بې همتۍ په جرم اخته وی هغه به آخر د خپل دغه بد کار د بدی نتیجې سره مخامخ کیږی. زما په فکر د بې عزتۍ د ژوند نه مرګ ډیر ښه دی او دا ځکه چه مو ږ تل د پاره په دې دنیا کښې پاته کېدونکی نه یو مگر د خوشحال یاد به تر ډیرو مودو باقی پاته وی.

د خوشحال د ژوند انه نوره پاته برخه عبارت د ځینو بې ترتیبو واقعاتو څخه ده، د مثال په ډول کله دی د قبائلو په مختلفو علاقو کښې د دې د پاره سرگردان گرځی چه خلک د چور او چپاو د پاره راپورته کړی، او کله کله د وخت د حاکمانو سره دروغی جوړی په خبرو بوخت لیدلای کیږی او کله د خپلو زامنو سر لاس او گریوان، د ده په زامنو کښې بهرام خان په خاص ډول ځکه د ذکر وړ دی چه ده خپل پلار پر ېښو داود مغلو سره ملګری شو؛ خوشحال خان په ۱۶۸۹ ع کال د (۷۶) کالو په عمر وفات شوی او د خپلی سیمی په یو خوشی ځای کښې ښخ شوی دی چه قبر ئې نن هم په دغه ځای کښې موجود دی؛ ده دغه د سړک نه لرې بیدیا کښې ځای د دې د پاره د خپل ځان د پاره خوښ کړی دی چه د مغلو اسونه او لښکری چه په سړک تېر ېږی د هغو د پښو او سومانو خاوری او دوړی د ده په قبر پرې نه وځی او د دوی د پښو کړپی د ده خوږ خوب خراب نه کړی لکه چه د همدې فکر په اساس



د پښتو د بیاوړی مشهور شاعر خوشحال خان خټک د قبر یوه منظره

ده په خپل یو شعر کښې داوصیت کړی دی چه ما په یو داسی ځای کښې ښخ کړی ء چه دمغلو داسونو گرد زما په قبر پرې نه وزی او په دې کارزما خوږ خوب خراب اوزما روح ناآرامه نه شی، دده په قبر یوه کوچنۍ گنبده جوړ شوې ده او دقبر سرته ئې په یوه ښازه یعنی شناخته دپښتو یو شعر لیکل شوی دی چه مطلب ئې دادی:

«ماخپله تور ه یوازی ددې دپاره پورته کړې ده چه په دې تو ره دپښتو نوم اوپت وساتم زه یم دخپل عصر یو ننگیالی انسان اوز مانوم خوشحال خان خټک دی»

د رامپور د رضا کتابخانې

پښتو قلمي نسخې

مونږ په تیرو ګڼو کښې د رامپور د رضا لایبریرۍ ۷ ټو که کتابونه معرفي کړي دي او دادي د دغې کتابخانې نورې قلمي نسخې هم پر له پسې ګرانو لوستونکو ته ښودل غواړو .

۸- دوالضحی پښتو تفسیر : دا تفسیر په نظم کښې لیکل شوی دی ناظم یې غلام محمد نومیږی لکه چه وایي .

زه غلامحمد بی کسه بی چاره یم هر ګناه چه له ما شی تا ته ښکاره یم

دغه نسخه د سید نور په خط لیکل شوې ده چه خپل ځان دا سی معررفي کوی .

کاتب الحروف خادم العلماء والفقرا سید نور شافعی مذهب متوطن سوات از پر ګنهٔ لنګر کوټ .

مګر دغه کتاب یې د هند د (بریلی) د اخون خوجه محمد په مدرسه کښې لیکلی دی

د دغې نسخې په پای کښې د جان محمد یو څه اشعار هم شته خو خطې خام او وروستنی دی لکه چه وایي .

د ښتن قدر عظیم دی حد یی نشته

جان محمد تری بیان کړی مختصر دی

۹ـ فوایدالشریعت : یوه ډیره ښه نسخه ده چه په نسخ لیکل شوې ده دغه نسخه پۍ دې ډول شروع کیږی .

عجب نور یی پیدا شوی د حضرت له خاندانه
وافغان ته راختلی د تر میز له پا که کا نه

ور پسی د سید علی ستا ینه کوی او د ی خپل پیر بو لی .
بیا د اخو نا نوستا ینه کوی دا نسخه ښه رنګین جدولو نه لر ی او (٦٧٦) مخه ده .

دلیك تاریخ یې معلوم نه دی خو کاغذیی زوړ بخن غوندې دی .
لیك دود یې تر ډیرې اندازې سم دی او (ب ، ښ) په د غه سم شکل لیکی .

د دې کتاب اخری برخه په دې ډول ختمیږ ی .

قاسمه واوره په زړه یې پند کړه
چه په هر ساد مرګ نارې دی
غا فل مه شه مټ پر عمل کړه
دا دې ځای نه دی ته مسا فریې ـ د تلو تکل کړه

فوایدالشریعت اخون قاسم پاپینخیل لیکلی دی او په پښتنو کښی ډیر شهرت لری قلمی نسخې یې هم ډیرې پیدا کیږی او په هند کښی چاپ شوی هم دی .

۱۰ ـ د کاظم شیدا دیوان : دا نسخه د فیض علی په خط په (۱۲۱۵ھ) کښی د نواب نصرالله خان د پاره لیکل شوې ده چه د رامپور نواب ؤ اوس د غلته د ده په نامه یو بازار هم شته . دا نسخه ډیره ښکلی نسخه اوله سرنه تر پایه مکمله ده . خط یې نستعلیق او د خټکو په ډول دی .

ډیر روښانه جدولونه اوښه کاغذلری. شروع یې په دې بیتو شوې ده

ای دکل جهان صنیعه ای دهر اسمان بدیعه
کامله قدرت دتـــادی نادره صنعت دتـادی

په دغه کتابخانه کښی دکاظم شېداد دیوان یوه بله نسخه هم شته چه په (۱۱۹۲ هـ) کښی دغه نسخه دفیض علی په خط دمیاغلام حیدر دپاره لیکل شوې ده.

دا نسخه هم مکمله ده او کومه نیمګړتیا نه لری.

۱۱ ـ رشید البیان: یوه زړه نسخه ده خط یې ډیر ښه او سم دی. (۲۰۴) مخه لری خو دلیك تاریخ یې معلوم نه دی. دغلته درشید البیان یوه بله نسخه هم شته چه ډیر ښه جد و لونه لری.

۱۲ـ مخزن الاسلام ـ دانسخه د میا سید نور محمد په سپارښته په ۱۱۳۳ هـ کال کښی دملا محمدی بیك په خط لیکل شوې ده.

دغه شان دمخزن یوه بله نسخه هم شته چه (۴۴۰) مخونه لری. په رواجی لیك دود په نسخ لیکل شوې ده او یوه مکمله نسخه ده.

۱۳ـ مقصود المئومنین: د بایزید انصاری یو مشهور کتاب دی چه په عربی ژبه لیکل شوی دی او د ایتونو سره پارسی ترجمه هم لری

ټول کتاب (۲۱) فصله دی. اول فصل د علم معرفت او اخر فصل دسکونت معرفت دی دغه نسخه په (۱۱٦۵ هـ) کښی د عصمت الله په قلم لیکل شوې ده.

ددې کتاب دبلی نسخې پته مونږ ته بل ځای نه ده معلومه شوې.

۱۴ـ صراط التوحید: داهم دمیاروښان یو تصوفی کتاب دی چه په پارسی ژبه لیکل شوی

ډیر ښه خط اوښې غاړې لری. ټول مخونه یی ۴۲۵ ته رسیږی

۱۵- د خوشحال خان کلیات:

او په دې حساب له چاپي نسخې څخه غټ ښکاري . په دې نسخه کښې پارسي گافونه په دې شان (ګ) لیکل شوي دي .

دا کلیات په دوو ټوکونو کښې په ډیر ښایسته نستعلیق خط لیکل شوي دي . دواړه ټوکونه یې ډیر ښایسته تیلای غاړې لري . لیک دو دیې د خټکو د کورنۍ په شان دي . په اول ټوک کښې څلو ریزي او بوللي دي چه (۶۰) مخونه لري او په دوهم ټوک کښې غزلونه پاړکي مربع او ترجیع بند شعرونه دي .

مخونه یې (۷۵۸) دي دا نسخه دافضل خان خټک په سپارښتنه په (۱۱۰۸ هـ) کال په اکوړي کښې د محمد سلیم سیالکوټي په خط لیکل شوې ده او دخوشحال خان دکلیات له ټولو نسخو څخه پخوانۍ او صحیح ښکاري له اول ټوک څخه یې دوه رباعي ګانې دنمونې په توګه راوړل کیږي .

په ما چه کار لري درومه هوښیاره
زه لیونی یم مینه شد یاره
نه څوک ادیب لرم نه څوک طبیب لرم
در دمی له یاردی ، دواله یاره
مغل پښتون سره په پیچ وتاب دی
چه پښتانه ګورم خانه خراب دی
ښه ښه ځوانان شته په پښتانه کښې
چه لاس یې نه رسي خانه خراب دی

۱۶- ددلي شهۍ قصه: د صدرخان خټک لیکلي کتاب دي چه اوس په پېښور کښې چاپ شوي هم دي . دغه نسخه د محمد میر پیر خیل نوښاري په خط د هند په (انوله) کښې په (۱۱۱۷ هـ) کال لیکل شوې ده

خط یی نسخ ، صحیح او سم دی. مگر په منځ کښی یی ځینی ځایونه خوړل شوی دی چه ښه نه لوستل کیږی . نوره قصه مکمله ده . او (۲۸۶) مخونه لری. شروع یی په دی ډول ده .

پس له حمد له درود ده تحیا ته

د ماضی مینو حال دی غوږ کره ما ته

اخر یی داسی دی .

ښه رنګ تم شه سن یی دا دی بی اشکا له

د شهی دلی قصه تما مه لا له

۱۷- ګلدسته : د شیخ سعدی د ګلستان ښتو ترجمه ده چه عبدالقادر ختک په ډیر خوږه ډول کړی ده .

دا نسخه د میر عبدالنبی په خط هند د (انولی) د بخش بهادر په چوک مسجد کښی د حافظ رحمت خان په سپارښتنه لیکل شوی ده (۳۱۳) مخونه لری خطی نسخه دی خو دومره پوخ نه دی مګر غاړی کر ښی ور کړ شوی دی .

د دی نسخی د لیکلو تاریخ معلوم نه دی خو دا خبره ور ځنی څر ګند یږی چه د (۱۱۸۰ھ) په شا و خوا کښی به کښل شوی وی . اخری بیتو نه یی دا دی ،

که عالم وی که فاضل وی چه بخیل وی

خلك واړه بد ګو یی ځنی کو ینه

د سخا ښتن که هر څو ګنهګار وی

واړه خلك یی عیبو نه پټو ینه

۱۸- آدم در خانی: دا قصه هم صد ر خان ختك لیکلی ده .

دا نسخه د ثناء الله درویش قادری په خط چه د هند د (مرادا باد)

او سیدو نکی ؤ ددوندی خان بریخ دزوی نواب فتح الله خان دپاره په (۱۲۰۷ھ) کال کښی کښل شوې ده. خط یې نسخ دی مګر پوخ نه دی. سره جدولونه لری او ټول مخونه یی (۱۷۲) دی.

دسر بیت یې دا دی.

ربه زړه زما چمن کړه دتا یا دپکښی ګلشن کړه

او آخر یی په دې شان دی.

داخای نم دعشق کلام شو قصه نم شوه والسلام شو

۱۹ـ فقه کریمداد: دا نسخه دتاج محمد مهدوری په خط لیکل شوې ده چه (۴۷۶) پاڼې لری لومړی برخه یې دکریمداد او دو همه برخه یې دا خو ن در ویزه ده. خط یې نسخ دی مګر دو مره پوخ نه ښکاری او په دی ډول شروع کیږی.

کل اغاز د نیکی چاری په نا مه د حق بهتر دی

دی بی مثله بی مانند تر جمله عقلو نو بر دی

۲۰ـ معرا جنامه: دا کتاب په اصل کښی غلام محمد دشیرخان زوی په (۱۱۱۵ھ) کښی له پارسی نه ترجمه کړی دی. دی په هند وستان کښی اوسیده او په خټه مو که خیل-ګیګیانی - سړبنی ؤ.

دغه قلمی نسخه په (۱۳٤) مخونو کښی دعبدالشکور افغان په خط کښل شوې ده.

خط یې خراب دی خو ښې غاړې او جد ولو نه لری دلیك تار یخ یې معلوم نه دی خود کاغذ له زړښت څخه معلومیږی چه پخوانی به وی.

دغه کتاب په دې ډول شر وع کیږی.

په حضرت نبی چه مهر مستانه کا

جبرائل یې پر بلل و ررو انه کا

اوخاتمه یې په هسې شان ده :

سنهٔ هجری وه په زرسل پنځلس کاله

دا بیان غلام محمد ابن شیر خان که

په صورت سړ بنی خښی وا یه شی

ملك وطن یې دواوه چه یې ګوزران که

په تپه کښې ګیګیانې ذات مو که خیل دی

دقسمت دانې بندی په هندستان که

۲۱ـ فضل نامه :

دخوشحال خټك دینی اثر دی دانسخه دپښتو په عام رواجی لیك دود لیکل شوې ده روښانه خط اوښه جدولونه لری او مخونه یې (۲۸۸) دی دلیکلو تاریخ یې نشته شروع یې په دې بیت کیږی :

کل ثنا په هغه ښایی چه ثنا یی هر څوك وایی

۲۲ـ دبابو جان مجموعه :

دانسخه په (۴۲۶) مخونو کښی په (۱۱۷۵ هـ) کال لیکل شوې ده خط یې رسا او سم دی شروع یې داده :

دالف له برکته مرحمت کړه

بندګی می کړه قبوله عنایت کړه

اواخر یې دادی :

قدم په لارې سم ږده بابو جانه

ګوندی خدای دی خاتمه نه کاړ نګه

ددې مجموعې په پای کښی دبابو جان دعائی سریانی او د (احمد) نومی شاعر ځینی شعرونه هم راغلی دی لکه چه وایی :

«دامعجزه دپاك رسول به عربی وه، کمینه احمد پښتو کړه
دغه یاران چه یی لولی یا یی اوری، سکه دعا دی پسی وکا
هغه دی واړه په حرمت شی، موږ دې هم په نیکه دعا یاد کا»

۲۳ـ نور نامه:

دانسخه (۱۱۰ محه ده خودلیکو تاریخ یی نه معلومیږی او خط یې هم خراب دی.

په دې بیت شروع کیږی:

داعجیب یوحکایت دی له قصص نه روایت دی

په دغه کتابخانه کښی د نور نامی دوه نوې ونسخې هم شته دی

۲۴ـ رساله دینیه پښتو:

په دغه کتابخانه کښی یوه دینی پښتور ساله هم شته چه مؤلف یې اخون موسی معلومیږی لکه چه وایی:

«اخون موسی څه لره څه وایی، نه قاضی یی نه امیر یی نه دی حکم،
په هر چا باندې چلیږی

ددې رسالې د تالیف سنه (۱۱۱۲ھ) لیکل شوې ده نور معلومات ورځنی لاس ته نه راځی.

۲۵ـ یوسف زلیخا:

دعبدالقادر ختك یوسف زلیخا ده. په پاخه نستعلیق خط لیکل شوې ده او دختکود کورنی دلیك دود په لاره درومی خو دلیکلو تاریخ او لیکونکی یې نه معلومیږی.

۲۶ـ دعای پښتو: یو وړوکی قلمی کتاب دی چه په (۱۱۸۹ھ) کال د حافظ شیخ احمد په خط نقل شوی دی. مخونه یې (۲۶) دی. خود مؤلف نوم یې نشته. په سر کښی یو څو کرښی پارسی هم لری او په دې بیتو شروع کیږی.

ای د آدم زویه ورځ به راشی هغه لویه
که هغه خواری وویني تا به بیل کاندی له وویه

آخر یی دا دی .

مصنف چه دا بیان کړ ګوندی خدای یی و بښینه

۲۷ - سیرة النبی - دا نسخه دسلیمان په خط کښل شوې ده. دلیکلو سنه نه لری خو کاغذیی لرغونی اوزوړ دی مخو نه یی (۱۵۸) دی . خط یی خراب دی خو لیك دود یی دومره بد نه دی . ددی کتاب دپاسه چا سیرة النبی لیکلی دی خو زما په خیال (شمایل نامه) ده او سید حسن جوړه کړې ده .

دسر بیتونه یی دادی :

اول وایه په زبان ښه ثنا د پاك سبحان

بیادرود په پیغمبر دی چه تر کل جهان بهتر دی

پس له حمده له صلواته راشه واوره وایم تاته

محمد آخر زمان د دو وکو نو پهلوان

او آخر یی دادی

دا روایت له شواهده خلقه ده برې شاهده

ښایسته خوږې خبرې په لذت لکه شکرې

په پارسی وه انشا شوې سید حسن تری پښتو وې

سنه هجری په شماره شوه په څلور حرفه پوره شوه

یوالف راغی بل کاف قصه ختم پرغین وقاف (۱۱۳۱ھ)

۲۸ - دقاسم علی دیوان : دا نسخه د کاغذ له مخه یوه زړه نسخه ښکاری . خط یی دومره پوخ نه دی سره جدولونه او (۲۷۰) مخه لری .

قاسم علی دهند په فرخ آباد کښی او سیده . په قام اپریدی ؤ قاسم علی دغه دیوان په (۱۲۰۶) جوړ کړی دی . ددې نسخې په سر و پای کښی

د قاسم علی مهر لګیدلی دی خو د مهر سنه (۱۱۹۱ هـ) ده داسی ښکاری چه دغه نسخه دده خپله وه . حافظ غلام محمد یی پیر وچه هغه هم په فرخ آباد کښی او سیده او په (۱۲۰۹) کښی وفات شوی دی قاسم علی دخپل قوم ستاینه په دی شان کوی

اپریدی به وی سخی او هم تو رزن وی
دا باور کوه ته قام د اپریدی
چه اصیل وی اپریدی هم دهغه خوی وی
ډک په ننګ صورت تمام د اپریدی
خوک بی نګ وی اپریدی ورته مه وایه
خدای ږوبه وی په اقسام د اپریدی

دقاسم علی دیوان په دې بتیو شروع کیږی .

حق مالک د دوو جهان دی رب زما
هم څښتن دلامکان دی رب زما

دغه دیوان په آخر کښی یوه خوابنامه هم لری دغه غزل یې د لوستلو دی :

ډیر مدت شو چه په غم دې مبتلا یم
هسی نه چه نن مهرو په تاشید ایم
زما ستا د مینی ډیر شو مدتونه
ته لا اوس وایی وما ته یار دچا یم
که می پلورې که می پیرې عذر نه کړم
دروغ نه وایم دا هسی په رښتیا یم
که می سرو مال ځی دواړه ستا په مینه
تیر تر سر او تیر تر مال په تا فدا یم

ماقضا ر ضا سپارلی دی وتاته
په هر سایو کمترینه عاشق ستایم
هسی نه‌چه به‌په غلا کوم خبرې
تر مجنون او ترفر هاد رسوا رسوا یم
په‌ر استی کوم خبرې همه واړه
نه پوهیږ م په کاږه هدف ګویایم
که تنهاله دنیا ور شم باك یې نشته
قاسم علی له ځای راغلی یك تنهایم

عبدالله بختانی

دشوروی اتحاد سفر

پروسږ کال دستامبر په میاشت دشوروی اتحاد دوستۍ دټولنو په بلنه دافغانستان او شوروی اتحاد ددوستۍ ټولنې په معرفی زه او زما ملګری (محمد اکبر شینواری) دپښتو ټولنې له خواشوروی اتحاد ته ولاړو -

زمونږ داسفر دلسو میاشتو دپاره ؤ او مطلب یې درو سی ژ بی زده کول وو .

هلته مونږ په مسکو کښې دمسکو دولتی پوهنتون په نوی عمارت کښې چه دلینن په غرونو واقع دی اوسیدو .

دمقالی لیکوال عبدالله بختانی په مسکو کښې

عکاس : دووریانکوف

دا پوهنتون په شوروی اتحاد کښې ترټولو لوی پوهنتون دی و په نړۍ کښې هم له لویو او مشهورو پوهنتونو څخه دی

دغه پوهنتون څوارلس فاکولتی لری او په دې عمارت کښې یې په زرهاوو تنه شوروی او خارجی زده کوونکی اوسی .

داعمارت دیو واړه ښار شکل لری چه د ژوندانه ټول لوازم او

ضروریات لری لکه کتا بخانې ، پوسته، تلګراف، تیلفون، بانك ، هوټلونه، دخوراکی مواد و مغازه، خیاط خانه، دبوټو نو د ترمیم مغازه، روغتون، دنایانو موسسه، سینما، تیاتر، کلوپ، موزیم او نور .

مونږ هلته د روسې ژبې داستا ذانو په کورس کښې شامل شوو . دا کورس په همدې پوهنتون پوری مربوط ؤ .

دغه کورس ته دشوروی اتحاد د دوستۍ دټولنو په بلنه دایشیائی، اروپائی او امریکائی ممالکو نه نور شاګردان هم راغلی وو لکه افغانستان ، هند، اندونیزیا ، سیلون، جاپان، انګلستان، فرانسه ، بلجیم، ناروې، ډنمارك، استریا، یونان، فنلینډ، استرلیا، د امریکی متحده اصلاع، کولومبیا ، یوروګوواو قبرس .

دکورس شاګردان دیوا بتدائی امتحان نه روسته دسویو له مخه په (۷) ګروپونو وویشل شول چه دروسی ژبی په عملی د رسونو کښې دهر ګروپ دپاره بیل معلم ؤ او لکچرونه به ټولو یوځای اوریدل.

په عملی او اساسی درسونو کښې به مونږ دژبی ګرامر، فونیتیك ، او ادبیات لوسته او محاوره مو قوی کوله .

لکچرونه مو د مختلفو استاذانو له خوا په دې موضوعاتو اوریدل :

دروسی ژبې دتدریس اصول، عمومی ژب پوهنه، فونیتیك ، ګرامر (د روسی افعالو برخه) دشوروی اتحاد تاریخ، جغرافیه، ادبیات او هنر .

عملي درسونه به هره ورځ څلور ساعته او لکچرونه به دوه ساعته وو

بختانی ، سونی تهلك راج ، هندی) د درس په حال کښې او (نینه کار نیفنا) د کورس استاذ .
عکاس: فیروز راند هلی هندی شاګرد)

په هفته کښې یو ځل به مود دوستۍ تولنې په مانۍ (د دوستۍ کور) کښې د یو روسی تاریخی، هنری یا سیاسی فلم نندارہ کوله. په هفته کښې یوه ورځ (چارشنبه) به زمونږ ایکسکورسیه (علمی سیر) ؤاود ښار د لیدو و ړیو ځای به موولید. په دې لړ کښې ځینې مهم ځایونه لاندې یادوم:

دایشیا او افریقا د ملتونو انیستیتوت: دا انیستیتوت د شوروی اتحاد د علومو اکاډیمۍ پورې اړه لری چه دایشیایی او فریقایی ملتونو د ژوندانه، تاریخ، ادب، ژبو، اقتصاد او نورو مسایلو په باره کښې علمی څېړنې کوی. ددی انیستیتوت د افغانستان په څانګه کښې هم یو شمیر متخصصین او څېړونکی کار کوی.

د ستامبر په ۲۹ زه اوشینواری د ښاغلی دووریانکوف په لارښودنه هلته ولاړو. هلته مونږ د هغو کسانو سره معرفی شوو چه د افغانستان په باره کښې یې تحقیقات کول او د هغوی په اصطلاح «افغان پیژندونکی» بلل کیږی

لکه ښاغلی ګیرس چه په همدغه کال کښې یې یو کتاب (د افغانستان ادبیات) په نامه چاپ شو دا کتاب یې د میرمن ګیراسیموا په ګډون لیکلی دی د امیرمن په پښتو معاصر ادب کښې مطالعه کوی او د ښاغلی بینوا اثار ښه پیژنی په همدې سبب شوروی افغان پیژندونکی ورته (بینواشناسه) وائی.

ښاغلی لیبیدوف د روسی - پښتو د قاموسونو په لیکلو کښې برخه اخستې ده او په دغه لار کښې کار کوی.

میرمن تاتیانا کوختینا - ډیره ښه پښتو وایی او د افغانستان د معارف تاریخ لیکی په پښتو ادبیاتو کښې د ښې مطالعې خاونده ده.

یو ځل افغانستان ته هم راغلې ده.

میرمن مریم هارونووا ـ داحمدشاه بابا تاریخ لیکی او دافغانستان په تاریخ کښې معلومات لری.

ښاغلی عارف عثمانوف چه د پښتو ژبې د تکمیل د پاره یوڅه موده یې په کابل کښې تیره کړې ده. په دغه وخت کښې یې یو اثر (دالفت نثر) تر عنوان لاندې لیکه. په همدغه کال یې د دغه اثر نه دفاع و کړه او د علومو د کاندیدات (دو کتورا) درجه یې وګټله.

ښاغلی پفیموف ـ څو کاله په کابل کښې د روسې ژبې معلم ؤ. دغسې یوشمیر نور ښاغلی مو هم هلته ولیدل او سره معرفی شوو.

ښاغلی اسلانوف او ښاغلی زو دین مو نه شو لیدلی.

ښاغلی اسلانوف په پښتو ژبه کښې د موجوده روسی افغان پیژندونکو استاد او سابقه لرونکی محقق دی. ده یو پښتو ـ روسی قاموس لیکلی دی چه اتیازره پښتو لغتونه په روسی تشریح شوی دی. دغه قاموس او س د چاپ لاندې دی.

ښاغلی زو دین ـ روسی ـ پښتو قاموس لیکلی چه پنځه دیرش زره لغتونه لری او په همدې کال کښې دوهم ځل چاپ شو.

ښاغلی دووریانکوف چه په پښتو ژبه او ادب کښې تکړه محقق دی ښه پښتو لیکی اووایی. دی څو ځله افغانستان ته هم راغلی دی او د شوروی او افغانستان د دوستۍ ټولنې معاون او د افغانستان د پښتو ټولنې افتخاری غړی هم دی،

په هر صورت زمونږ ملاقات د ایشیا او افریقا د انستیتوت د افغانستان د څانګې له کارکونکو سره ډیر په زړه پوری ؤ. د دوی د علمی کارونو په باب مونږ ته معلومات حاصل شوو او دا د بې تاریخی او ژبنیو څیړنو په باره کښې مو خبرې وکړې.

دمسکو دولتی پوهنتون د معاون سره ملاقات :

دچارشنبی پهورځ دا کتو بر په (۲) کښې دپوهنتون د نوی عمارت په مرکزی برخه کښی زمونږ دکورس شا ملینو دپوهنتون د مرستیال ښاغلی ایوانوف سره تعارفی ملاقات و کړ د معرفی څخه ور و سته ښاغلی ایو انوف د نورو ملتو نو سره د شوروی اتحاد د دوستی او دنړی د سولې په باره کښې وینا وکړه اودمسکو په پوهنتون کښې دخارجی شاګردانو در وزلو رول ته یې دنړی د سولې او دو ستی دټینګو لو په لار کښی اشاره وکړه بیایی شاګر دانو ته د پو هنتون واړه ښا نو نه د یاد ګار په ډول و بخښل ـ و روسته بیا د عما رت څلورویشتمې پوړی ته وختلو ددغه ځای نه په څلو و خوا وو کښی دمسکو لوی ، پراخ، شین، ښکلی اوودان ښار ښکاریده .

په همدغه ورځ مو د پو هنتو ن مو زیم ا و کتا بخا نه هم و کتله .

تریتیا کوفسکی ګالیری:

دا دروسیی د هنری اثار و ډیر لوی موزیم دی داکتیا بر په (۹) کښی دی موزیم ته ولاړو.

دلته مو د روسی هنرمندانو دلاس ډیرې نخښی او دروسی ملت دژوند ډیر مظاهر در سمو نو اونقا شیو په تا بلو ګانو کښی ولیدل .

یوڅه موده وروسته مو بیا په همدغه موزیم کښې د شور وی هنر او د هغه د تاریخ په باره کښې لکچرونه اوریدل .

په کریملن کښې:

په بله چارشنبه (۱۵ اکتیا بر د ۱۶) کریملن ته ولاړو .

د کورس شاگردان د لینن مزار ته ځی
مسکو-سور میدان.

اول په سره میدان کښی د لینن مزار ته ولاړو او د هغه مومیایی شوی جسد مو ولید بیا د ننه کریملن ته ننوتو او هلته مو د پخوانی کلیسا، د لینن د کار د دفتر او د نورو ځایونو ننداره وکړه.

دغه ورځ د میزان ۲۳ عکاس: سودارمو (اندونیزیا وال شاگرد)

نیټه وه او په مسکو کښی دواوری وریدل هم شروع شو زمونږ هندی ملګرو ته د لومړی ځل د پاره دواورولیدل ډیره په زړه پوری ننداره وه.

د مسکو راډیو:

په پورتنی نیټه زه او شینواری د مسکو راډیو د پښتو څانګی د کارکوونکو په غوښتنه د مسکو راډیو ته ولاړو.

د مسکو په راډیو کښی د افغانستان او ایران د پاره د نشریاتو یوه اداره کارکوی چه بیا دوه څانګی لری. د ایران څانګه په پارسی ژبه او د افغانستان څانګه په پښتو ژبه خپرونې کوی.

د مسکو راډیو پښتو خپرونې هره شپه یو نیم ساعت وخت لری د پښتو څانګی مشره پیغله لودمیلا یا څیویچ ده - غړی یی میرمن زویه، ښاغلی میشه او ښاغلی سفچینکو دی دوه تنه نطاقان ښاغلی نادر جلالی او ښاغلی مصطفی رسه د افغانستان نه ورغلی دی.

بناغلي لود میلا یاخیویچ د پښتنو تکړه لیکوالو غوندې پښتو زر زر لیکی خط یې ښکلی او پښتو یې سمه ده. ښه پښتو وایی او په پښتو ادب کښې په تیره بیا د معاصرو افسانو او روما نو نو په برخه کښې ډیره مطالعه لری.

د پښتو ډیرې کیسی او افسانی یې په روسی ژبه ترجمه کړی دی او اوس هم دا کار کوی. د پېښور دلیکوالو په قلم لیکل شویو افسانو سره ډیره دلچسپی لری د پښتو د ډیرو کیسو د اوستو په وجه یی د افغانستان سره ډیره علاقه پیدا کړې ده او ددې ښکلی هېواد دلیدو ډیر هوس لری.

میرمن زویه هم ډیره سمه او فصیح پښتو وایی او لیکی او په پښتو آثارو کښې ښه مطالعه لری کله کله په راډیو کښې هم غږیږی او دهغې نطاقی حتی د مرحوم محمد گل خان مومند شاعر بسی هم گټلی دی.

ښاغلی سفچینکو په پښتو ژبه پوهیږی، څو کاله یې د کابل راډیو په روسي پروگرام کښې کار کړی دی او دلته د دوستۍ ټولنې د روسی ژبې د کورسونو ښوونکی ؤ.

د پښتو څانګې کارکوونکو مانه وغوښتل چه د خپل سفر او خپل کورس په باره کښې څه ولیکم. ما په دغه موضوع کښې یوه لنډه مقاله ولیکله چه بیا په راډیو کښې خپره شوه.

دهغې مقالې ځنې مطالب دلته هم تکراروم:

((د شوروی اتحاد د دوستۍ ټولنو موسسې ښه کار کړی دی چه د نړۍ د مختلفو هیوادونو شاګردان یې د روسی ژبې د یادولو د پاره بللی دی. دا کار که له یوې خوا نه د شوروی اتحاد دوستی له دغو هیوادونو

سره ټینګو ی د بلې خو ا نه پخپله ددغو هېواد ونو ترمنځ دښې پیژند ګلوی اود د وستی او کلتو ری روا بطو په ټینګو لوهم اثر لری . زما پیش نهاد دادی چه دنړی نور هیو ادونه دې هم دخپلو ملی ژبو دزده کړی دپاره دغسې کور سونه و پرانیز ی او ددې لارې نه دنړی دسولی ټینګو لو سره مرسته وکړی .))

دمسکو ر اډیو کار کوونکو مانه وغوښتل چه ددوی هغه ادبی پروګرام سره دا یمی همکاری وکړم چه په هفته کښې یو ځل خپریږی . ماورسره ومنل خود ډیرو درسونو له لاسه بریالی نه شوم . کله کله مې ځینې ادبي پا رچې ور کولی .

په هغه پروګرام کښی می پوره برخه و اخیستله چه د رحمان بابا دیا دونی په نسبت ترتیب شوی ؤ .

د خارجی ادبیاتو کتابخانه :

بلهٔ ورځ دخارجی ادبیاتو کتابخانی له خو اما او شینواری ته کارتو نه راغلل چه دشپې هلته ورشو . کار تو نه دکتابخانې یو ې غړې راوړی وو . هغې وویل چه په دې محفل کښی ستاسو وجود ضروری دی اوارومرو راشیء .

بیګا ته ولاړ و . په دغو ورځو کښې دشوروی اتحاد دعالی شورا درئیسه هیئت مشر ښاغلی بریژ ینیف په افغا نستان کښې و .

دخارجی ادبیاتو په کتابخا نه کښی دامجلس په همدغه منا سبت دشوروی اتحاد اوافغا نستان ددوستی په نامه جوړ شوی ؤ دمجلس مشر ښاغلی ګپرس و . پېغله لیودمیلا یاخیویچ اومیرمن کالا نینا زویه ښاغلی لیبیدوف اوځینی نور افغان پیژوندونکی هم پکښی وو . میرمن کالا نینا زویه د مسکو په پوهنتون کښې دپښتو ژبی استاذه ده

په پښتو ژبه اوګرامر کښې ښه معلومات لری. هغې خپل شاګردان هم ځان سره راوستی ووچه دپښتنو دخولې نه پښتو واوری.

په مسکو کښې یوشمیر افغانی شاګردان هم بلل شوی وو. هلته دافغانی اثارودکتابونو یونند ارتون هم ترتیب شوی او په المار یو کښې یو زیات شمیر افغانی چاپ شوی اثار ایښودل شوی وو. په دغو کتابونو کښې زماځینې اثار لکه د زړه راز، شعر او ادب، پښتانه د اقبال په نظر کښې اونور موجود وو.

د کتابخانې هغې کارکوونکی حه مونږ ته یې کارتونه راوړی وو مانه دغوښتل چه په خپلو تالیفاتو دیاد ګار په ډول لاس لیک وکړم. ما په ډیره خوشالۍ داکار وکړ.

محفل بناغلی ګیرس وپرانیست اوخپله مقاله یې دپښتوادب په باره کښې ولوسته بیایې زه اوشینو اري حاضرینو ته معرفی کړو. دې محفل ته ځینې روسی شاعران هم راغلی وو او د افغانستان په باره کښې یې خپل شعرونه ولوستل. بناغلی نادر جلالی دیو روسی شعر پښتو ترجمه ولوسته ددغه شعر عنوان (دافغانستان بیرغ) و. بیا بناغلی شینواری خپله مقاله ولوسته او په پای کښې ما خپل څو شعرونه ولوستل.

د پوشکین په نامه موزیم:

دا کتیا بر په ۲۳ د پوشکین په نامه لوی موزیم وو کوت. داموزیم دشوروی اوخارجی آثارو له مخه په مسکو کښې ډیرغنی موزیم دی په دې موزیم کښې مو د مصر د فرعونانو د وخت مجسمې او یاد ګارونه هم ولیدل

د کار ګرانود اتحاد یې په کالنۍ غونډه کښې:

بله چار شنبه د اکتیابر په ۳۰ کښې د شوروی اتحاد د کار ګرانود اتحاد یې په غونډه کښې موګډ ون و کړ.

داغونډه د کریملین دمانۍ په تیاتر کښې جوړه شوې وه. هغې ته د شوروی اتحاد د ټولو جمهوریتونو نمایندګان اود کارګرانو او بزګرانود اتحاد یو مشران راغلی وو. د شوروی اتحاد صدر اعظم اود وزیرانو د شوراغړی هم حاضروو. دغې ټولنې ته په زرها وو تنه د مسکو او سیدونکی شورویان او خارجیان بلل شوی وو.

دلته د کارګرانو او بزګرانود نمایندګانو له خواددوی د اتحادیو او جمعیتونود کارونو په باره کښې مفصل توضیحات ورکول کیدل. د اوریدونکو دچو کیو سره د ترجمې الې ینبودل شوې وې چه دهغه په ذریعه اوریدونکو کولای شو ای چه تقریرونه یا په روسی یا په انګریزی او یا په فرانسوی ژبه واوری. کله چه مایوخواوږده تقریرونه واوریدل لږ ستومانه غوندی شوم او د تیاتر د هلیز ته ووتم. هلته تلویزیون ایښی و او د ستیژ ټول جریانات ښودل کیدل او تقریرونه ئې اوریدل کیدل.

د دوستۍ په ټولنه کښې:

سباته د دوستۍ ټولنې په بلنه د دغې ټولنې په عمارت (د دوستۍ کور) کښې راټول شوو.

د دوستۍ ټولنې د کار کوونکو سره معرفی شوو او د دغې ورځې نه وروسته بیا په هره سه شنبه کښې د دوستۍ کورته ور تلو او د یو فلم نندارې مو کوله د د دوستۍ ټولنې د رئیس معاون ښاغلی ن. پانکوف د سولې او د دوستۍ په

داد خارجي هيوا دونو سره د شوروی اتحاد د دوستۍ او کولتوری روابطو ټولنه (د دوستۍ کور) دی .
ښاغلی ن . پانکوف د ټولنې غړی د روسی ژبی شاګردانو ته وینا کوی .

باره او په دې لاره کښې دژبو دیاد دلو درول په باب وینا وکړه .

په پای کښې ددوستۍ ټولنې کارکونکو مونږ ته دروسي ژبې او ادب څو کتابونه د یادګار په ډول راکړل .

داکتیا بر دا نقلاب جشن

دشوروی اتحاد په تاریخ کښې داکتیا بر ۲۴ نیټه ډیر اهمیت لری . په دغه ورځ کښې شوروی دهقانانو او کارګرانو سوسیالستی انقلاب کړی دی او په هغه هېواد کښې یې د سوسیالستی رژیم حکومت قایم کړی دی .

نو ځکه په دغه وخت په ټول شوروی اتحاد کښې ډیر لوی او مجلل جشن وی . دېخوانی او او سنی کلیز دتوپیر له مخه داجشن داکتیا بر د ۲۴ نه ۱۳ ورځې وروسته یعنې دنیابر په ۷ کښې جوړ یږی .

د کورس شاګردان د رسم ګذشت ننداره کوی
مسکو ـ سور میدان عکاس : فیروز .

په دغه نیټه کښې مونږ د رسم ګذشت دننداري دپاره سره میدان ته بلل شوی وو دا ننداره ډیره په زړه پورې وه او زمونږ د ډیرو ملګرو د حیرت او تعجب سبب شو .

دپروفسیوز اداره :

د نوامبر د میاشتې په یوه ورځ مونږ د شوروی اتحاد دکارګرانو د اتحادیې دفتر ته ولاړو چه په روسی کښې ورته (پرفسیوز)

وایی . ددې اتحادیې یوې کارکوونکې دوینا په ترڅ کښې دشوروی اتحاد دکارګرانو دژوند، کار ، استراحت ، معاش ، ناروغی ، تقاعد اونورومسایلو په باب کښې مونږ ته معلومات راکول

هغې وویل چه دا موسسه په شوروی اتحاد کښې دټولو کارګرانو یوه ملي اتحادیه ده چه دهغو دحقوقو حمایه کوی او په دې باره کښې دولت ته پیش نهادونه وړاندی کوی. دشوروی اتحاد په هر جمهوریت کښې دغسې موسسه شته او بیا دټولو مرکز همدغه اداره ده. په دې اتحادیه کښې په ملیونو کارګران غړیتوب لری . هغې وویل چه په شوروی اتحاد کښې دا تر ټولو لوی ملي موسسه ده

هغې وویل : په شوروی اتحاد کښې د کارګرانو متوسط معاش په میاشت کښې (۷۵) روبله او تر ټولو کم معاش (٤۵) روبله دی

دموسیقی مکتب :

دنوامبر په (۳۰) مودموسیقی یومتوسط ښوونځی ولیدچه په هغه کښې د مسکو او روسیې دشاګردانو نه سربیره د شوروی اتحاد دنورو جمهوریتونو شاګردان هم موسیقی یادوی ددې مکتب دخاطر اتو په لړ کښې دیوو اړه (۱۳) کلن ماشوم (سیروژکی) پیانو غږول راته نه هیرېږی

انترنات ښوونځی:

دنوامبر په (۳۰) دانترنات ښوونځی ته ولاړو دا داسی ښوونځی دی چه په هغه کښې واړه ماشومان دلومړی ټولګی څخه د بکلوریا دد ورې ترپایه پورې په خارجی ژبو درس وایی . دازده کوونکی د ښوونځی په لیلیه کښې اوسی اویوازی د عمومی رخصتیو په ورځو کښې (که څوک وغواړی) خپلو کورونو ته ځی . په دغه ښوونځی کښې چه مونږ ولیدو درې ځانګې وې او په هره ځانګه

کښې یوه خارجې ژبه (انګریزی، فرانسوی، جرمنی) تدریس کېده مونږ دغه ښوونځی د فرانسوی ځانګې څلورم ټولګی، د انګریزی اووم او د جرمنی څلورم ټولګی د درس په حال ښې ولید.

سربیره پر دی موږ ښوونځی کلوب، کتابخانه، موزیم، نندارتون اولو بغالی هم ولید. په پای کښې د ښوونځی د شاګردانو له خوا ترتیب شوی سبا ناری موږ کړ. د سبا ناری ټول مواد پخپله شاګردانو پاخه کړی وو.

د ښوونځی د مدیر د وینا له مخې په ټول شوروی اتحاد کښې دوه ملیونه ماشومان د انترنات په ښوونځیو کښې درس وایی.

د ځارندویو سره کتنه:

د همدغې ورځې په ماز پښین د ځارندویو ټولنې ته ولاړو. د دې ټولنې تعمیر د لینن په غرونو زموږ پوهنتون ته نژدې واقع دی

هلته موږ د ځارندویانو لاسی کارونه، رسمونه، نقاشی، په لرګو کښې کنده کاری او نور کارونه ولیدل چه ډیر په زړه پوری وو.

د کورس شاګردان، محینی استادان او د دوستی ټولنی محینی غړی د ځارندویو په ماڼي کښې. مسکو د لینن غرونه
عکاس: فیروز

د ځوانانو ټولنه:
(د وم کلتور)

د نوامبر په (۳۰) د شپې له خوا د ځوانانو هغې ټولنې ته ولاړو چه د سات تیری د پاره تر

شوی وه. دهغې شاملین دیو ولسمو ټولګیو شاګردان وو. لومړی هلته یو کانسرت اجرا شو چه په هغه کښې د روسی اهنګو نونه سر بیره یوه کیوبا یی نغمه او یو ه افغانی نغمه هم اجرا شوه. افغانی نغمه ډیره په زړه پورې وه او ددغه غزل وزن پکښې کمپوز شوی و:

(راغلله ګلشن له صنم زلفان یی کړه شانه)

په پای کښې مونږ (دروسی ژبې شاګردان) حاضر ینو ته معرفی شوو او هغوی د ګلو ګیډۍ راوړاندې کړې.

وروسته بیا زمونږ یونانی ملګری (کوسموس فونتو کی) په روسی ژبه وینا وکړه او بیا د ملګرو په خواهش ماخپل یو غزل چه په هماغه ورځ کښې مې په پښتو جوړ کړی وو اور اوه. چه ښه استقبال یی وشو.

د کانسرت څخه وروسته رقص واو په پای کښې ر مونږ او د ځوانانو تر منځ د نژدې نه معرفی وشوه او ادرسونه موسره تبادله کړل. وړوکتون.

په روسی ژبه کښې دما شومانو درو زلوځای ته (دما شو مانو باع) وایی چه مونږ یی وړوکتون بولو.

د دسامبر په څلورمه مونږ د مسکو یو وړوکتون ولید. هلته د درې کلن نه تراوه کلنه پورې ۱۵۰ تنه ما شو مان راټول شوی وو او روزل کیدل. هلته د تفریح اوسات تیری د پاره ټول وسایل آماده شوی ؤو او دما شوما نو هره ټولګی د یوې پیداګوګې تر نظارت لاندې وه.

په دوی باندې د دوی د طفلانه ذوق او روحیی سره سم، لاسی کارونه، نقاشی او نور ظریف صنایع اجرا کیږی. موزیك، سندرې، ګډا او نور ورښودل کیږی. د شپږم کال تر پایه پورې د روسی ژبی

دحروفولوستل اولیکل ورزده کیږی دد وی خوراك او استراحت د منظم پروګرام لاندې هملته کیږی. یوازې در خصتۍ په ورځو کښې میندې او پلرونه خپل ماشومان کورونو ته بیایی.

ځینې داسې هم وی چه د ورځې دلته او دشپې کورونو ته ځی ماشومان هلته راز راز لوبې کوی. ماپوښتنه وکړه چه دا خو ماشومان دی او دماشوم طبیعت آزادۍ ته ډیر میلان لری آیا دوی دپاره د آزادولو بو د پاره هم فرصت شته؟

په ځواب کښې راته وویل شو: هو! هره ورځ دوه ساعته دوی کاملا آزادوی. خپلو کښې بی ترتیبه او بی پروګرامه لوبې کوی مګر ددې دپاره چه کوم خطر سره مخامخ نه شی مربی یی داسې مراقبت کوی چه دوی پرې پوه نه شی.

کله چه مونږ ددوی داستراحت یوه کوټه او پاك او منظم چپر کټونه کتل زمونږ یو هندی ملګری (سونی تیلك راج) بی اختیاره وویل: کاشکی زه ماشوم وای.

کله چه مونږ د دوی یوه ټولګۍ کتله ماشومانو په روسی ژبه ترانه ویله بیا یوې جینۍ مونږ ته ستړی مشې وویله او بل هلك وویل: د شوروی ماشومانو سلام د خپلو هیوادونو ماشومانو ته ورسوی ء!

دغه ټوله پالنه یوازې په دې کیږی چه مور او پلار دخپلې سویې له مخه په میاشت کښې یوازې ددوو نه تر ۱۲ روبله پورې ورکړی. بی موره او پلاره ماشومان ترې مستثنی دی. زمونږ فرانسوی ملګری (ژیلبرت) پوښتنه وکړه چه آیا ټولو شوروی ماشومانو دپاره دغسې ترتیبات شته؟

په جواب کښې ورته وویل شو: نه! یو شمیر خلك پخپلو کورونو کښې فرصت لری چه د خپلو ماشومانو روزنه وکړی هغوی خپل

ماشومان وړو کتون ته نه لیږی . او څو کې یې چه لیږی هم تر اوسه موفق نه یو چه ټول ومنو. په هره ناحیه کښې او په ځینو لو یو فابریکو او کارخانو کښې داسی وړو کتو نو نه شته او ماشومان د هغو د مور او پلار ددرخواستونو له مخې په نوبت منل کیږی چه په دې کښی یو څه انتظار هم په کار دی. دولت ډیره توجه لری چه ډیر ژر وړو کتو نو نه زیات کړی څو چه وړو کتون ته مستعد ماشومان ددرخواست سره سم بې له انتظاره په وړو کتون کښی شامل شي .

د پیدا ګوګی انیستیتوت :

ددسامبر په (۱۱) مو په مسکو کښې د پیدا ګوګی (معلمی او تربیې) انیستیتوت کوت. په دې انیستیتوت کښې د شوروی اتحاد دمکتبو نو تعلیمی پروګرام جوړیږی او پیدا ګوګان روزی. د انیستیتوت مشر په دې باره کښې توضحات راکول، چه متاسفانه ددې موضوع یاد داشت را نه ورك شوی دی. د هغه د خبرونه مې یوه دلچسپه خبره په یاد ده چه ویې ویل: زمونږ دنهم صنف نه پورته شاګردان هره ورځ تر ۱۲ ساعتو پوری ددرسونو نه علاوه په فابکرتو او کار خاو کښې کار کوی. ده وویل: کار دنظری درسونو دیاد ولو سره ډیره مرسته کوی. درس هم دې د پاره دی چه سړی کار او عمل ته تیار کړی. په دې عصر کښې بې عمله کار ناممکن او بې له کاره علم بې فایدې دی. هغه وویل: دنظری معلوماتو خاوند ان ډیر ځله دعمل په صحنه کښی ځان ورك کوی او خپل معلومات نه شی تطبیقولی په کار کښی دغسی مسایل او مشکلات شته چه یوازی د کار دجریان په وخت کښی زده کیږی نه په صنف او مکتب او کتاب کښی. ده په آخره کښی دغسې یوه ټوکه هم وکړه چه دې متل ته نژدی وه چه (خر کاری هم هنر دی)

دکیوبا دشاګردانو سره پیژنه !

زمونږ په فاکولته کښې دروسی ژبې دمعلمانو یو کورس زمونږ کورس وچه د۱۸ هیوادونو شاګردان پکښې وو همدارنګه دکیوبا دشاګردانو دپاره د روسی ژبې دمعلمۍ ځانته بل کورس ؤ. ددسامبر د(۳۰) نیټې په ماښام زمونږ او دهغوی ترمنځ پیژندنې دپاره یو مجلس جوړ شوی و. په دی مجلس کښې دمعرفۍ او ډوډۍ نه ورو سته دکیوبا دشاګردانو له خوا کیوبایی نغمې واورول شوې. زمونږ دګروپ هندی شاګردانو د ډنډې هندی ملی لوبه اجراء کړه چه پښتانه یې ((ډانګه بازی)) بولی.

همدارنګه زمونږ هندی ملګری (سونی یلك راج) دخود قیقو دپاره په سرودریدچه ډیر په زړه پوری واقع شوه په آخره کښې - زمونږ د کورس دمعلمانو په تقاضا مایو ملی افغانی شعر ولوست چه عنوان یی دی:

«کران افغانستان زما»

مجلس دروسی او کیوبایی نځاګانو سره پای ته ورسید.

دشوروی دښځو اتحادیه :

داټولنه دشوروی دښځو دحقوقونه دفاع کوی او د ښځو او ماشومانو دژوندون په مسایلو غور کوی. په دی موسسه کښې مونږ ته په دی باره کښې معلومات راکړی شو. په دې ترڅ کښې وویل شوو چه په شوروی کښې په سلو کښې ۵۴ ښځې او ۴۶ نارینه ژوند کوی. دشوروی ښځې دژوند په مختلفو څانګو کښې کارکوی. په معلمانو طبیبانو او دکاندارانو کښې دښځو اکثریت دی. په نورو ساحو کښې هم دنارینه ووغوندی کارکوی. کله چه په مختلفو طبقاتو کښې

دښځو دفیصدی په باره کښې معلومات راکول کیده په آخره کښې یې په ډیر فخر وویل چه بالاخره دخارجی فضا په کیهان نوردانو کښې دټولې دنیا دښځو له طبقې نه شوروی کسمنافته (کیهان نوره) والینتینا تریشکوا هم دشوروی اتحاد دښځو له جملې څخه ده.

په دې اتحادیه کښې مونږ ته دوالینتینا تریشکوا دوینا اود روسی نغمو ځینې ریکارد ونه او (په شوروی اتحاد کښې ښځې اوماشومان) نومی کتاب دیا دګار په توګه راکړشو.

دمای اوله ورځ:

دمای اوله ورځ دټولې دنیاد زیارایستونکو بین المللی ورځ ده. داورځ په شوروی اتحاد کښې په شاندارو مراسمو استقبالیږی. او په سره میدان کښې رسم ګزشت اجرا کیږی. د رسم ګزشت نندارې ته مونږ هم بلل شوی وو. د پسرلی موسم واو هوا ډیره معتدله وه. رسم ګزشت ډیر شاندار او په زړه پورې و. د رسم ګزشت نه دمخه بناغلی احمد بن بلا دا لجز ایرمشر (چه په دې ورځو کښې دشوروی دولت میلمه و) هم ویناو کړه.

ددغې نندارې یوه رنګینه او شاعرانه منظره ما په یواد بې نشر کښې د ((ګلفروش) ترعنوان لاندی لیکلې ده.

د دغې ورځې په شپه زمونږ د کورس شاګردانو د ((پراګ) په نامه رستوران کښې دشپې کښینا ستلو یو مجلس ترتیب کړ. په رستوران کښې زمونږ دمیز په خوا کښې په یو بل میز دوه نړی لنډ ځوانان، یو میانه قدی سړی او یوه ښځه ناسته وه. په رستوران کښې نورو روسی ناستو کسانو مسلسل مونږ او دغو ځوانانو ته کتل. یو یا څو تنو ته دخلکو دومره ډیره توجه مونږ نه وه لیدلې. مونږ حیران ووخو زمونږ

د ډنمارکی ملګری (هینری) بنځې (چه هغه روسی وه) مونږ له حیرانی نه وا یستلو او ویې ویل: داد خارجی فضا کیهان نوردان یعنی ګاګارین، تیتوف او بیکوفسکی دی. زمونږ ملګر غلی غلی پسیدل چه دمعرفی د پاره زمینه مساعده کړو. اروپائی ملګرو ویل چه معرفی بنه ده خو بی نزاکتی غوندې ده (دهغوی هم زړه کیده هم ساړه) ایشیائی ملګرو دمعرفی ډیره تقاضا لرله او ویل یې چه «مونږ داکسان په اسمان کښې غو بنتل او په ځمکه موو موندل» او بله داچه مونږ ددوستی ټولنې منسو بین یو او په دوستی کښې دومره نزاکتو نه نه ځائیږی بالاخره زمونږ هندی ملګرې پیغلې (جاینتی) چه په هندی لباس کښې وه په ډیره ساحرانه اوماهرانه وضع دنزاکتونو د عنعنا تو دپابندی سحر داسی مات کړ چه هغه کار چه مخکښی بې نزاکتی ګڼل کیده دنزاکت حقیقت مجسم کړ. هغې خپل توست دفضا نوردانو په سلامتی پورته کړ. هغوی هم دغومره خوشحاله شوو لکه مونږ. هغوی هم مونږ (دمختلفو هیوادو خارجیانو) ته دمعرفی لار لټو له خود نزاکتو نو په جنجال کښې دغه لارورته دخارجی فضاد لارو نه مشکله شوې وه. هغوی مونږ ته او مونږ هغوی ته او ناست کسان ټولو ته خوشحاله شول. په دوستانه فضا کښې سره معرفی شوو. د بنا غلی ګاګارین سره زما د معرفی په وخت کښې هغه دافغانستان دمپلمه پالنې اوخوږو میوو ستاینه وکړه په رستوران کښې دشوروی دخوږو نغمو موزیك غږیده او ددوستانه صحبتونو، ټوکوټکالو او نخاګانو سره مجلس په نیمه شپه پای ته ورسید. باید ووایم شی چه په شوروی اتحاد کښې چه په ښکاره ډول دچاعزت او امتیاز محسوسیږی هغه همدغه کیهان نوردان دی.

د((مسکو نیوز)) په اداره کښې :

((مسکو نیوز)) دشوروی اتحاد یو ه مشهوره ورځپاڼه ده چه دشوروی اتحاد ددوستۍ ټولنې پورې تعلق لری .داورځپاڼه په عین مضمون او په بیلو نسخو په دریوژبو (انگریزی، فرانسوی ،هسپانوی) خپریږی. داورځپاڼه دشوروی اتحاد هیواد اودهغه ژوندا و کلتور خارجیانو ته معرفی کوی .

خبرونه ، تبصرې ،دشوروی مشرانو وینا گانی اواد بی مقالی خپروی.

یوه ورځ ددغی ورځپاڼې یوه نماینده زمونږ دکورسونو ادارې ته راغله اومونږ سره ئی مصاحبه وکړه او بله ورځ مونږ دورځپاڼې ادارې ته وبلل شوو. هلته مو دورځپاڼې دکارکوونکو سره ملاقات وکړ

هغوی زمونږ دکورسونو ،کارونو اوژوند په باره کښې او مونږ دورځپاڼې په برخه کښې پوښتنی کولې

داجریانات ددغې ورځپاڼې د۱۹۶۴ دمای ددریمی نیټې په (۶۹۷)۱۶ ګڼه کښې خپاره شوی دی.

په دغه ورځپاڼه کښې سربیره پرنور ومو ضوعاتو دخارجیانو دپاره دروسی ژبی دلوست یوه سلسله هم خپریږی چه دروسی ژبی مشهوره معلمه (نینه پوتاپووا) یې لیکی. په دغه ورځ «دمسکو نیوز» په اداره کښې مونږ له دغی ژب پوهاندې سره هم ملاقات وکړ

نینه پوتا پووا:

دسرویښتان یې سپین اوعمریی داویاکالو په شاوخوا اټکل کیدی شی. مشهوره ګرامر پوهه ده. دخارجیانودپاره یې دروسی ژبی

لومړنی درسی کتاب لیکلی دی داکتاب د دنیاپه ډېرو ژبو (د پښتو په شمول) ترجمه شوی اوپه لکها وو نسخې یې چاپ شوی دی.

هغې وویل چه ما پنځه څلویښت کاله دروسی ژبې معلمی کړی ده اواوس متقاعده یم- هغه یو ځوی لری اوویی ویل چه هغه داد بیاتو په فاکولته کښی اسپیرانت دی ماته یی اشاره وکړه چه ستاهم مسلکی دی. هغه دخپل ځوی ډیر صفت وکړ او په هغه یې فخر کاوه.

د هغې ملاقات مونږ ته ډیر په زړه پوری وځکه چه مونږ ټولو پخپلو ژبو دهغه لومړنی درسی کتاب لوستی ؤ.

پولکینه:

پولکینه د روسی ژبی بله مشهوره ګرامریسته، فیلا لوګ او معلمه ده هغې د زاخو نیکراسووا) په ملګرتیا دخارجی زده کوونکو دپاره دروسی ژبی یولوی اوجامع درسی ګرامر لیکلی دی. داګرامر دجامعیت اوشهرت له مخه په روسی ژبه کښی داسی مثال لری لکه (شرح ملاجامی) په عربی نحوه کښې. البته داکتاب نوی اوپه عصری متود لیکل شوی دی.

ای-ایم پولکینه هم سپین سرې اوداتیا کالو په شاوخوا کښې پخه ښځه ده خوتر اوسه یی دتدوین او تالیف نه لاس نه دی اخستی او تراخرې سلګی دخپلی ژبې خدمت کوی. هغه یوه ورځ زمونږ دکورسونو د مدیرې (انا ندرېیفنا) په بلنه فاکولتې ته راغله اومونږ ورسره ملاقات وکړه. دخارجیانو دپاره دروسی ژبې دمعلمی داصولو دمهمو نکاتو په باره کښی دخپلو تجربو په اساس یې اوږد لکچرورکړ.

بیایی وویل چه زما ګرامر دنوی نظر نه وروسته اوس دریم ځل ترچاپ لاندی دی څرنګه چه تاسی یې لولیء، نو که څه اصلاحی

نظریات او انتقادات لرئ ماته یې ووایې چه زه پکښې اصلاحات وکړم. ملګر وخپلې نظریې ویلې او هغې به یا ځواب ورکړیا به یادداشت کړ. څه موده وروسته داګر امر له چاپه ووت.

نوری کتنی:

همدارنګه مونږ په مسکو کښې د ځوانانو د اتحادیې د غړو سره ملاقات وکړ، د لینن په نامه کتابخانه، د شوروی ملی اقتصاد نندارتون د ټوکرانو یوه فابریکه، پنرام، د پوشکین د ژوند په باره کښې موزیم او ځینې نوری موسسې وکتلې د مسکو نه د باندې تقریبا سل کیلو متره وړاندې مود (چیه کوفسکی) مشهور روسی موزیکانت کور ولید چه داد هغه د ژوند انه پورې مربوط موزیم ګڼل کیږی مونږ د شوروی نورو ښارونو او جمهوریتونو ته درې سفرونه وکړل چه وروسته بیانیږی.

واسعی

د پښتو شعر او ادب خوږې خواوی

او خوند وراړ خونه

(۱۰)

دزړه سر او دسترګو تور : دا هغه دوه خطا بونه دی چه په پښتو ژبه کی د مورؤ پلار له خوا دخپل اولاد (زوی ؤ لور) د پاره مستعملیږی او یا ئی هغه څوك چه زړه ئی د مینی او محبت څخه ډك وی خپل ګران او معشوق ته پرخوله راوړی او د زړه سر یا دسترګو تورور ته وائی .

د پښتو په شعر او ادب کی دادوه خواږه خطا بونه او خوندور القاب ډیر راغلی او د ښاغلی الفت په کلام کی په یوه ساده مګر زړه منونکی پیرایه او محاوره وی انداز لیدل کیږی ښاغلی الفت د (ستا د پاره) ترعنوان لاندی پخپله یوه ټوټه کی وائی :

ای زما دزړګی سر دستر ګو توره

د بهار وږمه تاویږی ستاله کوره

داجهان بهار ښایسته کړ ستاد پاره

ته له خپل قدره خبره نه ئی هر ګوره

که اسمان او که دامځکه دا هواده

که دلمر او دسپوږمی سپینه رنا ده

دغه واړه خدای پیدا کړه ستادپاره

دنیا ټوله ستا دد وو سترګو دپا ره

دپورته ټوټی په لومړی بیت کی علاوه ددې دوو خو ږ وا لقا بو پرر اوړ لو دهغه خطابی شکل هم کلام ته یو خا ص مو زونیت ور بخښلې دی چه په ابتدا کی ئی (ای)خطاب کلمه راغلی ده .

ددې ټوټی په وروستنی بیت کی هم یو ادبی ښکلا پرته ده چه هغه عبارت د (دوو سترګو) څخه ده . دا اصطلاح لکه دپښتو ژ بی په محاورواوویناؤ کی چه پرله اوړی رااوړی شعر ادادب ته هم ور ننو تلی او دپښتو ادبی رنګ وروغن ئی ورزیات کړی دی په محاوره کی ډیرارویده کیږی چه یو بل ته وائي (داکارمی ستاد دوو سترګو دپاره وکی یاار مان چه ستا دوې سترګی په میانځ کی نه وای یا که ستا ددوو سترګو لحا ظ نه وای بیا به دی لیدلی وای چه ما په ده څه کول)اولدغه قسمه نور .

د لته شا عر وائی :

دغه د واړه خدای پیدا کړه ستا دپا ره

د نیا ټوله ستا دد ووسترګو د پـــــاره

عبد السلام کاکړ دکندهار دکرزد کلی اوسیدو نکی شا عر چه ملی بدلی او اشعارئی هلته خورا مشهوردی یوه بد له لر ی چه په مطلع کی ئی د (دوو سترګو) یاد په یو ه افسو سنا که اودارمانه څخه په ډکه لهجه کړیدی دی وائی :

ستاددووسترګو په تمه بلبلان بوستان له ځی

په ژ ړا به ور ته ژاړم چه رویبار جانا ن له ځی

پدې مو قع کی ماته دې پښتو اشعار وته ورته دمیر زا ببد ل

دکلام یو بیت را په زړه سو چه دغه دسترګو یادو نه ئی کړی ده خو په خورا زړه وړونکی پیرایه او ادبی قوت او موزون تشبیه هغه وا ئی :

ز سودای چشم تو تا کام ګیرم
دوعالم فروشم دو بادام ګیرم

لکه دښاغلی الفت دکلام چه قوی افاده او صریح تجسم یو خاص امتیاز او خصوصیت دی تر دغه خصوصیت لاندی دده دا لاندی بیت چه د (پسرلیه) تر عنوان لاندی په یوه قصیده کی راغلی دی موږ ته ځان راښکاره کوی :

سپین مخو نو سرو ګلو نو ته چه ځیر شم
را په یاد شی سپینی توری سره لاسو نه

په دې بیت کی دمخو نو سره سپین او دګلو نو سره دا سرو کلمی راوړل او بیا ددې دوو په مقابل کی سپینی توری او سره لاسونه ور په یاد یدل یو خاص کیف او اغیزه لری او تصور یی سړی د خیال او شعور بلی نړی ته بیا ئی . که څه هم دده مقصد د سپینو تورو او سر ولا سو څخه پخپله همدغه دوه شیان دی او د یوه مجاهد او غازی توری او لاسو ته اشاره کوی مګر که ددې حقیقت څخه موږ مجاز او استعاره جوړه کړو او دتخیل او خوند نړۍ ته ځان په ور سوو زما په خیال زموږ باز کخیا له شاعر به هم انکار نه پرو کی بلکه دی نړۍ ته به په خورا خوښی او خوشحالی راسره ولاړشی داسی چه دسپینو تورو څخه به سپین مړوندونه او د سر ولا سو څخه به په وینو سره لاسونه نه بلکه په نکر وځو سره لاسونه وا خلو، ځکه چه سپین مړوندونه د سپینو تورو سره تشبیه کیدا ی شی او

د پښتو په شعر او ادب کې د معشوقې سپین مړوند او لیچ داوږی څخه د لاس ترحپړی پوری سپینه توره بللی سوی ده او ځینو شعراؤ په مصرۍ توره تعبیر ځینی کړی دی.

ښاغلی الفت د خپلو څلوریځو په لړ کی یوه څلوریځه داسی وائی:

دګودر په غاړه پروت ؤ یو کودړی
ویلی زه وم روغ منګی کلال جوړ کړی
دلته لوبو کی زه مات یوه زلمی کړم
یوې پیغلی په اوږه ومه راوړی

ددې څلوریځی کیف او خوند له هرې کلمی او هر توری څخه دلوستونکی زړه ته لاری لټوی او که هر څو نه انسان بې ذوقه وی بیاهم دا څلوریځه تر یوې اندازې تکان ورکوی او په زړه ئې خوله ورلګوی.

دا ځکه چه څلوریځه غونډه د پښتنی روح او پښتنی احساس او شعور څخه ډکه ده موضوع او کلمات مطلب او تعبیر دومره سره ملګری او لاس تر لاس دی چه حپلی اغیزې ته ئی تر اندازه زیات قوت ورکړی دی او لوستونکی د شعر او ادب په مذهب ایمان پر راوړی او په ډیره خوښی او د خوند په شدید احساس غاړه ورته ایږدی.

په پښتنو کی یو متل کیږی وائی «اول ځان بیا جهان» یعنی لمړی د ځان چاره لازمه ده او هر څوك باید اول ځان وروزی او وروسته د نورو پالنی ته مخ راوګرزوی که څوك بالعکس ځان هیر کی او نور په نظر کی ونیسی، هغه ددې متل په حکم هوښیار او پوه سړی نه بلل کیږې او دا اقدام یی د عقل او منطق څخه لیری معلومیږی. خو ښاغلی الفت په دې پښتنی متل څخه یوه خوږه

مدعا او په عین حال کی یی خورا عالی اجتماعی پر ا بلم ر ایستلی دی ده نړۍ دوې برخی کړې او انسانان ئی پر دوه بلاکه ویشلی دی وائی دچا په مغز و کی چه د عقل او فکر رونړا پیدا او دانسانیت په هسکه معنی پوه او د بشریت حقیقی بڼه و مو می نو هغه د عا مو انسانانو څخه جدا او یو تمایز او تفاوت ور حاصل سی د ځا ن تر ښه تیر او د نورو ګټه ئی په نظر کښی وی هغه خوند او ذ و ق چه بل یو ئی د ځان په جوړولو او تقویه کی احساس کو ی دی د غه خوند د نورو په جوړو لو او روزلو کی حاصلو ی ښا غلی ا لفت وائی :

چه انسانی رونړا پیدا شی په مغزو کی د چا
هغه کو ښښ کړی په عالم کښی انسانان جوړوی
ډیر تفاوت شته په انسان کښی د معنی په لحاظ
واړه مشغول دی ځینی ځان ځینی جهان جوړوی

وائی شعر او شاعری د ښه تخیل او ښکلی احساس ترجمانی کوی او ذهنی او فکری خوند ورتا ثر او ا نفعا ل چه د محیط او ما حو ل په ژ به بیان شی هغه شعر بلل کیږی په شعر و نو کښې هم فرق او تفا وت سته څوك د معنی له پلوه خورا بکر او تا زه وی خو الفا ظ او کلمات ئی پرزړه برابر نه وی مو ندلی سوی او شاعر د خپل تفکر ګلو نه په ښکلو لو ظروفو کې نه وی و پاندې کړی الفا ظ ناما نوس او کلما ت زیږه او داسې کرخت وی چه د لوستونکی ماغزه ورو ټکوی او زړه ؤ ذو ق ئی نه منی

د ښه شعر د تهیه کولو یو مهم شرط بلکه یوازینې رکن دا دی چه شا عر د محیط څخه الها م اخیستی وی د ما حول او ټو لنې او دژ وند خو ند ورواړ خو نوته ورځرمه سوی وی په دې لړ کښې موږ غو ا ړو

دښاغلی الفت له کلام څخه د استثها د په توګه ځینې ټوټې راو اخلو او ښاغلو لوستو نکو ته ئی وړاندې کرو چه دوی وګوری او دا پخپله احساس کړی چه دا نمونې څو نه خوندوری او په کمه اندازه دلوستو نکی احساساتو که تحریك ورکوی او سړی پرخوښی او هیجان را ولی بلکه بلی دنیا او یوه خوازه جهان ته یی بیایی

ښاغلی الفت یو ځای د صبر تر عنوان لاندې په یوه څلور یځه کښې وایی.

ځنی وائی صبر غم کښې نه ژړل دی
دا ولاد په مړینه ږیره نه شکول دی
که صحیح معنې ئی غواړې رماجانه
په سختیو کښې خپل ځان نه بایلل دی

بل ځای د بیخبری تر عنوان لاندې دا دوې څلور یځې راوړی

په ګو در پیغلو منګی خپل ډکول
یو منګی د ډکیدو په وخت ویل
تږی نه یو او به څکو خو نه پوهیږو
چه څه راز به وی د تږی او به څکل

✲ ✲ ✲

په رشتیا چه څوك منګی غوندی ډکیږی
وږو تږو له احواله څه خبر یږی
په کندوانو څوك پړه نه شی اچولی
که په لوږه د خوارانو نه پوهیږی

د حسن او جمال تر عنوان لاندې دا څلور یځې خو راز ړه وړونکې او خوږې دی:

چه په کاڼو کښې ښايست چيرې پيدا شي
ټول جهان کښې ډير عزيز قيمت بها شي
که ښايست کړی ځان ښکاره په کوم انسان کښې
يا يوسف يا زليخا شي يا ليلی شي

✻ ✿ ✻

شاه جهان او د محمود غوندې شاهانو
کړی پټه نو کړی د مهر ويانو
که انسان هر څومره لوړ شي په جهان کښې
بيا هم وی له اثر لاندې د خوبانو

✿ ✿ ✿

له غمو سره مې هو مره اشنائی شوه
چه ئې اوس راته مشکله جدائی شوه
له تر خوزړه نه صبر يږی چه عادت شي
دښمن هم سړی ته خوږ شي چه يار ړې شي

(نور بيا)

لیکوفکی: اسلانوف په مسکو کښې
د پښتو استاد

مترجم: معتمد شنواری

د افغانستان د ملی ژبی جوړیده او انکشاف

په ۱۷۴۷ع کال کښې چه د کندهار ښار د افغانستان پایتخت شوله همهغه وخته د اتلسمی پیړۍ تر اخره پورې د ټولو جنوب لویدیزو پښتنو د پاره کلتوری او اقتصادی مرکز وګرځید، دورانی لهجه په دغه وخت کښې په تدریج سره وسیعه شوه د قومی لهجې نه یې د ټول کندهار د خاورې لهجې ته ارتقا وکړه.

احمدشاه بابا د کندهار په ښار کښې قومونو ته په ناحیو ناحیو ځایونه ور کړل (مثلا ترنن ورځې پورې دا نوم شته «د بامېزو کوڅه»)

د ټول ښار لهجه دورانی لهجه شوه په کومه چه په خپله احمدشاه بابا ګړید، ډیرو لویدیزو غلجیانو کندهارۍ لهجه ونیوله، مثلا هغه لومړی پښتو درسی کتابونه چه مولوی صالح محمدخان چه په خپله غلجی دی لیکلی دی هغه په کندهارۍ (دورانی) لهجه دی، لکه چه دا مطلب په خپله مولف د لومړی کتاب په مقدمه کښې څرګند کړی دی مګر اوس په افغانستان کښې په زیاته اندازه د غلجی لهجی رول انکشاف کړی دی او استعمال یې ډیر دی د دی خبری دلیل دا نه دی چه ګوندی ډیر لیکوال او ژورنالیستان غلجیې لهجه لیکی او د دې، لهجی څښتندن دی بلکه دلیل یې دا دی چه پایتخت (کابل) په داسی سیمه کښې واقع دی چه ماحول کښې ورنه اکثر غلجی قومونه پراته دی او په خپله په ښار کښې هم ډیر او سیږی که څه هم په ښار کښې دورانی ډیر دی خو د لهجی رول یې مغلوب دی.

دیوه ادبي فورم په تشکیل کښي ددواړو لهجو د خصوصیاتو یو ځای کیدل یو ضروري امر دي او دادي مونږ وینو چه ختیز پښتانه د (یې) په ځای (یاست) او د (په) ادات په ځای (پر) وائي او همداسي نور دلویدیزي پښتو خصوصیات اوس په ختیزي کښي رواج لري او له بلي خوا لویدیزو پښتنو شروع کړي ده دختیزي لهجي دخصوصیاتو نه استفاده کوي، مثلا د (ځخه) په ځای د (نه) لاحقه استعمالوي.

باید داوویل شي چه دلویدیزي ادبي پښتو اساس دورانۍ لهجه ده لکه چه دختیزي ادبي پښتو اساس پیښورۍ ده.

دصالح محمد خان درسي کتابونه، دپنزل ګرامر او د شوروي افغان پیژندونکي لیبیدوف ګرامر لویدیزه لهجه معرفي کوي او د بدیعي نثر نمونې ئې د بینوا، زمریالي او نورو په اثارو کښي دي او دقاضي رحیم الله خان دوه کتابونه د ختیزي پښتو دپاره خدمت کوي او د بدیعي نثر نمونې یې دمنشي احمد جان او نورو په اثارو کښي لیدل کیږي.

افغان ملت دخپلو مخصوصو تاریخي شرطونو لاندې تشکیل شوي دي، امکان لري چه داملت د ۱۶ پیړۍ په شاو خوا کښي د نوابیو او فیودالي خانیو په صورت جوړ شوي وي مونږ په قطعي ډول نه شو ویلي چه د (پښتون) او (پښتو) نومونه کله پیدا شوي دي خو هغه یادداشتونه چه دلومړي محل دپاره زمونږ ګوتو ته راغلي دي او د دې قوم یادوني پکښي شوي دي هغه د ۶ پیړۍ سرحد ته رسیږي.

دشپاړسمي پیړۍ په منابعو او اثارو کښي د (پښتونخوا) ذکر ډیر راغلي دي، پښونخوا د پښتنو سیمي یا هیواد ته وایي، نورو ملتونو ټولو پښتنو ته (افغان) ویل او اوس هم افغان ورته وائي.

د پښتنو تاریخ او دژوند کارنامې بې په لومړیو او منځنیو پیړیو کښي په کافي اندازه سره نه دي تشریح شوي، په خپله شوروي پوهانو په دې نژدې وختونو کښي

د پښتون ملت د تشکیل او جوړیدو مسایل تر مطالعې لاندې نیولی دی او د دوی د تاریخی اړخونو په زده کړه مشغول دی.

د دوه (انګلو افغان) جګړو په نتیجه کښی پښتون ملت د نو نسمې پېړۍ په اخر کښی تجزیه او په دوه برخوو ویشل شو، برسیره په دې ترڅ یره وخته پورې قبایلی تفرقی او بیلوالی منځ ته راغی چه بیا په تدریج سره دوی په عمومی اقتصادی پر مختګ کښی ور ګډ شول مګر دغه پر مختګ د استعمار یو نود پر له پسی حملو په اثر وځنډید، د دریاب د تجارتی لارې سقوط چه د یورپ نه هند ته راخلاص شوی و دغه د پښتنو اقصادی انکشاف یې متاثر کړاو هم د پښتنو په خاوره کښی د انګلیس سیاست دغه نوموړی پر مختګ ته کسلکه صدمه ورسوله.

دغو پور تنیو علتونو لکه چه د پښتنو اقتصادی پرمختګ او قومی تشکیل خراب کړ همدار ازئې د دوی د ملی ژبې جوړ یدل متاثر کړل.

د ډیرو پیړیو په موده کښی د هغی سیمې چه پښتانه ور باندې اوسیږی دولتی ژبه فارسی وه، د دې ژبې رول هغه وخت ډیر زیات شو چه د اتلسمې پیړۍ په آخر کښی د افغانستان پایتخت د کندهار څخه چه اوسیدونکی یی پښتانه دی کابل ته را نقل شو، مګر دومره خبره ده چه لا په همهغه وخت کښی داسی عوامل موجود ؤ چه د ملی ژبی (پښتو) د تشکیل سره یی کومك کاوه.

په دولسمه پیړۍ کښی پښتو زیات ادبیات لرل چه توری یی عربی او د خوارزم د مړی ژبی نه مخالف ؤ

د پښتو د فولکلور ډیرښت او د عشقی اشعارو انکشاف لا او یا کاله وړاندی ډارمستتر یادداشت کړی او ستایلی دی.

د اولسمی پیړۍ د پښتو د ادب تاریخ مونږ ته داسی نامتو او وتلی شخصیت را په ګوته کوی لکه خوشحال خان خټك، دی یوازی شاعر نه ؤ بلکه جګړن هم ؤ، دی د پښتنو د یووالی او اتحاد سخت طرفدار وه د ده آرزو یو قرن وروسته احمد شاه بابا

پوره کړه ، احمدشاه بابا پښتانه قبایل سره یو کړل او په ۱۷۴۷ کال کښی یی دپښتنو دولت منځ ته راوست او قبایلی تفرقو ته یی خاتمه ورکړه ، احمد شاه دشعر په نړۍ کښی دخوشحال خان پیرو او تعقیب کوونکی ؤ.

پښتو ادب په شپاړسم او اولسم قرن کښی په مخصوص ډول سره انکشاف او پر مختګ وکړ، ددې انکشاف یوه برخه دروښانیانو په حرکت او نهضت پورې اړه لری ، ورپسی داسی شاعران لکه خوشحال خان او رحمان منځ ته راغلل چه ددوی آثار ترنن ورځی پورې په مسلسل ډول سره تعقیبیږی او داستفادې لاندې دی

د شپاړسمې نه تراتلسمې پیړۍ پورې د پښتو ادبی ژبه باید په غور سره تحقیق او وپلټل شی او دمختلفو اړخونو څیړل یی ضروری دی او هم یی متنونه چه په عربی خط لیکل شوی دی سمعی او اوریدلو ته اړدی او خصوصاً بیاد «خیرالبیان» هغه خطی کتاب چه دوهم ځل موندل شوی دی او دهغه وخت مخصوص دایرة المعارف دخوشحال خان «دستار نامه» بیا پوره اړدی که څه هم دستارنامه نسبتاً ساده او په آسانه ژبه لیکل شوې ده .

دهغه وخت ادب داسی شاهدی ورکوی : لومړی دا چه د هغه وخت لهجوی تو پیرلږ څرګند شوی دی او دوهم دا چه دغه تو پیر د کلتوری مبادلې «دا قوامو په منځ کښی» مانع نه دی ګرځیدلی .

دشپاړسم او اتلسم قرن دپښتو دادبی «تحریری» ژبی تدقیق او تحقیق باید دیوې ډلې پښتنو فلالو جستا نوله خوا په تدریج سره عملی شی، دهر پخوانی لیکوال دکلام لغوی او ګرامری خصوصیات په مفصل تحقیق سره تجزیه او وڅیړل شی ، دا کار شروع شوی دی لکه دخوشحال خټک دکلام دګرامری خصوصیاتو په باره کښی د لومړی ځل دپاره یوه مقاله په «کابل» کښی نشر شوه . باید ددې لوی او قیمتی کار فوری تکمیل ته ضرور هیله ولرو او همداسی بی انجامه پرې نه ښود شی .

له اوه لسمې پیړۍ نه را په دې خوا دختیزو پښتنو تجارتی او کلتوری مرکز پیښور

په خپل انکشاف شروع وکړه او دلویدیزو پښتنو اقتصادی، سیاسی او کلتوری مرکز کندهار له اتلسمې پیړی څخه په خپل پرمختګ پیل وکړ، د کندهار د ښار او سیدونکی اساساً دورانی دی او په پښتو ګړیږی دنورو قومونو نمایندګان چه دوی سره راشه او درشه لری هغوی هم د دورانی لهجی خصوصیات استعمالوی.

باید وویل شی چه لویدیز غلجیان مثلا ختک هم کندهاری پښتو وایی لکه چه ځینی پووندہ غلجیان دا لهجه وایی.

په اتلسم قرن کښی په دورانی حکومت کښی پښتو په اردو او عسکری مراکزو کښی حکمرانی لرله، محمود پخواچه په پېښور کښی د احمد شاه د قضائی چارو دلاسی خط کتاب وموندل شو هغه په کندهاری لهجه ؤ.

قریبا دیوې پیړی په جریان کښی «د اتلسمې آخر او د نوښمې سر» د ادبی پښتو آثارو سقوط وکړ مګر فولکلور او د عشقی اشعارو انکشاف بی ادامه درلوده.

د نوښمې پیړی په دوهمی نیمائی کښی په پېښور کښی پښتو ادبیات بیرته راژوندی شول، د دې ادبیاتو انکشاف سره په هند کښی د لیتو ګرافی د دستګاه پیدا کیدلو ژیات کومك وکړ.

دشلم قرن په اوایلو کښی په افغانستان کښی د مورنی ژبی پښتو سره علاقه قوی شوه، د اعلاقه د پښتنو د ملی رشد او بیداری سره مستقیمه رابطه لری، د پښتنو د دې ملی رشد او حرکت یو شاهد دادی چه دوی هغه تللی خپلواکی بیرته لاس ته راوسته او د ننه په هیواد کښی بی یولړ اصلاحات وکړل

په ۱۹۰۳ کال کښی په کابل کښی د لومړی محل د پاره یو منځنی مکتب تاسیس شو چه د ملی منورینو د کادر په جوړلو کښی کومك وکړی

په سراج الاخبار کښی چه د یو مشهور تعلیم یافته افغان محمود طرزی تر کتنې لاندې نشریده د پښتو ډیر مواد په کښی نشر یدل، په ۱۹۱۶ کال په کابل کښی د پښتو لومړی درسی کتاب په لویدیزه لهجه د صالح محمد خان له خوا چاپ شوی ؤ.

په ۱۹۱۹ کال کښې چه پښتنو خپلواکي لاس ته را وسته نو دې کار د مملکت دا نکشاف د پاره عموماً او د کلتوري چارو د پر مختګ د پاره خصوصاً په مناسب شرطونه جوړ او برابر کړل او هم ئې د پښتو سره علاقه قوي کړه.

له دغه وخت ته را دې پلو د مکتبونو تعداد مخ پر زیاتیدو دی، د رسمي معلوماتو له مخې په افغانستان ګښې په ۱۹۴۱-۱۹۴۲ کلو نو کښې ۳۳۱ ابتدائي او منځنی مکتبونه موجود وچه په هغو کښې څلور شپېتو زرو شاګردانو تحصیل کاوه او په ۱۹۶۰-۱۹۶۱ کلو نو کښې ۱۰۵۵ مکتبونه جوړ شول چه د شاګردانو شمیر یې ۱۶۵۵۹۶ ته رسید.

په ۱۹۳۱ کال په افغانستان کښې (د کابل پوهنتون) جوړ شو، په مملکت کښې دا لومړی عالي دانشګاه ګڼل کیږي.

د خپلواکي د ګټلو څخه وروسته په پښتو ژبه یو لړ اخبارونه او مجلې راووتلې، په کابل، کندهار او جلال اباد ګښې د پښتو درسي کتابونه چاپیدل، د خپلواکي د جنګ پاوخت یا ۱۹۱۹ کال کښې د پرو پښتنو په اخبارونو کښې پښتو اشعار چاپول او یو چټک حرکت روان ؤ، د (اعلیحضرت) محمد نادر شاه د پادشاهۍ په وخت کښې د پښتو ژبې د تعمیم او انکشاف د پاره ځنې موسسې جوړې شوې او دا اقدام ځکه وشو چه پښتو د دولتي ژبې په حیث پېژندل کیده او د دغې ژبې د انکشاف لزوم او حتمي پر مختګ د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په دولتي پروګرام کښې په ۱۹۳۴ کال کښې شامل شو، په دغه کال کښې په کندهار کښې (پښتو انجمن) جوړ شو د دغه انجمن له خوا پښتو مجله خپرېدله او هم یې د وه ټو که پښتو خو د اموزه د فارسي ژباتو د پاره چاپ کړل.

په ۱۹۳۶ کال کښې پښتو د دولتي او رسمي ژبې په حیث اعلان شوه، د پادشاه په فرمان کښې ټول حکومتي رجال د پښتو په زده کړه مکلف شول او د پښتو تطبیق په دولتي دا ېرو کښې د فارسي سره یو ځای ضروري و ښودل شو پښتو په تدریج سره د تحریر په کار و نوا او په رسمي ځایونو کښې تعمیم پیدا کړ، په ټولو مکتبونو کښې د پښتو ژبې تدریس جاري شو او په ټولو

وزراتونو او موسساتو کښې د پښتو رسمي کورسونه جوړشول چه وظيفه يې د دغې ژبې انکشاف او تدريس کول دي .

په ۱۹۳۷ کال کښې د کندهار او د کابل پښتو ادبي انجمنونه سره يو ځای شول او پښتو ټولنه ورڅخه جوړه شوه ، د پښتو ټولنې وظيفه او هدف خلکو ته پښتو ورزده کول، پښتو تعميمول او پښتو ادبياتو ته انکشاف ورکول دی .

له ۱۹۲۶ کال څخه راهيسې يو لړ اخبارونه يوازې په پښتو ژبه چاپيږي او هغه نشريات چه په فارسي ژبه دي هلته هم د پښتو يوه برخه شته .

له ۱۹٤۰ کال څخه راهسې ادبي او بديعي « کابل » مجله په پښتو نشر يږي دامجله د پښتو اکاډيمۍ ارګان دی، دی مجلې د پښتو ليکوالو او د دوی د کارونو په اتحاد او راټولو لو کښې ډير مهم رول لوبولی دی او لوبوی يې .

له ۱۹٤۳ کال څخه راهيسې د کابل راډيو په خپل فعاليت شروع کړی ده چه په پښتو او فارسي نشريات کوي او په ۱۹٤٤ کال کښې د کابل په پوهنتون کښې د ادبياتو فاکولته پرانستل شوه ، د غې فاکولتې ډيرادبيان او فلالوجستان منځ ته راوويستل او له ۱۹٤۹ کال نه راهيسې په پښتو او فارسي په ډيرو ټوکونو کښې افغان دايرة المعارف (اريانا) چاپيږي .

د مطبعې د کارونو انکشاف او پرمختګ ته ډيره توجه شوی ده ، په مرکزي حصو کښې په تدريج سره ليتو ګرافي چاري په تيپو ګرافي بدلې شوې چه په مطبوعاتي کارونو کښې سرعت پيداشي او د کتابونو او نورو نشرياتو نرخ ټيټ شي .

په عمومي ډول سره د مملکت د تيز اقتصادي او کلتوري پرمختګ له کبله په دې شلو کلونو کښې يوه معلومه نتيجه د افغان ملت لاس ته ورغلې ده .

له ۱۹۳۷ کال څخه را په دې خوا پښتو ادب يو ښکاره او محسوس موفقيت او کاميابي ته رسيدلی دی ، د اشعارو د انکشاف سره د نثرې نوعې انکشاف او پرمختګ هم روان دی؛ قصې په کښې پيداشوې ، نکلونه او افسانې په کښې ليکل کيږي

او په دی وروستیو کلونو کښی د لومړی محل دپاره د پښتنو لیکوالو رمانونه دنړۍ مخ ته راووتل ، ډرامه نویسی په کښی منځ ته راغله او په پوره اندازه سره پښتانه لیکوال پیدا شول. د مکتبونو انکشاف، دراډیو نشریاتو او دډرامو لیکلو دادبی ژبې او داولسی لهجو تر منځ تناسب قایم کړی او قوی کړی دی.

افغانی لیکوالو او عالمانو څو محلی دادبی ژبی او د پښتو د لهجو د تناسب په باره کښی غونډی سره کړی او دامسایل یی منځ ته را اچولی دی، په دی موضوع کښی نوی، کار هغه په ۱۹٦۱ کال کښی د کابل مجلی په ٤۹۲ ګڼی کښی د (معیاری پښتو) ترعنوان لاندی مقاله ده، په دی مقاله کښی ویل شوی دی «چه دټولو نه لومړی باید داد بیاتو اصل منبع وپلټو او زده یی کړو چه هغه د ملت ژبه ده، باید په پوره معنی سره د پښتو لهجی زده کړو او ددوی په منځ کښی یوه چه ترټولو ستره او مشره وی دادبی ژبی دپاره انتخاب کړو او خپلی لیکنی په هغی متکی کړو.»

دډیرو مکتبونو منځ ته راتللو، د راډیو د نشریاتو او په عمومی ډول سره دخلکو دراشه او درشه له برکته د ادبی ژبی او د لهجو په منځ کښی اشتراک سره قوی شوی دی مګر د لته داهم باید قید کړو او پوه شو چه کومه محاوره چه په وړو کتوب کښی زده شوی ده هغه په ټوله معنی سره ساتلی پاته شوی ده او داعادت نه محی، دمثال په ډول داسی لیکوال او د پښتو ژبی ادیب لګه ګل پاچا الفت په محاوره کښی « کیی » وایی او په لیک کښی بیاددی کلمی ادبی شکل « کوی » لیکی.

په ۱۹٤۲ کښی په کابل کښی د پښتنو لیکوالو او فلالوجستانو یوه جرګه جوړه شوه ، دوی تصمیم نیولی ؤ چه یو معلوم معیار منځ ته راولی او درسم الخط قواعد اسان اوښه کړی ، دوی کوښښ وکړ او د مفرد مذکر غایب د پاره یی چه مختلف شکلونه لری یو شکل انتخاب کړ او نور یی متروک کړل مثلا د (لیدل) د مصدر نه د (ولید) شکل انتخاب شو او د خلیل مومند ولهجه (ولیدو) او د کندهار

لهجه (ولیدی) په ځای پاتی شوی مګر دجمعی مخاطبی خاتمی (است)او (یی ه) مساوی انتخاب شوی او په لیکلو کښی دواړه صورته روادی ځکه (پښتو واياست، پښتو وايی ه). د ۱۹٤۸ کال په اګست کښی همدا راز یوه بله جرګه جوړه شوه ، داخل په کښی پیښوری لیکوال هم شامل وو، ددی جرګی غرض او هدف داو چه ددواړو لهجو نژد یوالی سره راولی ه

دریمه جرګه د ۱۹۵۸ کال د اګست په میاشت کښی په کابل کښی وشوه ، داخل دجرګی اجندا او موضوع رسم الخط اوګرامری مسایل وو،دا پیره په دی جرګی کښی په خپله د پیښور د پښتو اکاډیمی رئیس هم ګډون کړی و ، دجرګی د تصمیم پهاساس په یو لړ ځایو نو کښی د ختیزی پښتو شکل ته ترجیح ورکړ شوی ده ، شك نشته چهافغانی لیکوال اوفلالجستان پهدی باره کښی دمشکلاتو سره مخامخ دی ، یوه کلمه چه دوه یادري شکله ولری څنګه بهمشکل نه وی مثلا (ورځ)او (روځ) ، (نور) ، (لمر) او (نور) او داسی نور مثالو نه در واخله مګر په دې کښی هم باید شك ونه شی چه افغانی لیکوال دی موضوع ته متوجه دی او په تدریج سره به دا مشکلات لری کړی او یوه متحده ادبی ژبه او معیاری پښتو بهمنځ ته راشی .

په ۱۹۵۲ ـ ۱۹۵٤ کلونو کښی پښتو اکاډیمی (پښتو ټولنی) یو ستر قاموس په دوه جلده کښی پښتو په فارسی چاپ کړ. دې قاموس کښی د لو یدیزا و ختیز دواړه ولهجی راوړل شوی دی او هم د دواړو لهجو خصوصیات ورکښی قید شوی دی اوبیا په ۱۹۵٦ ـ ۱۹۵۸ کلونو کښی بل ستر قاموس فارسی پهپښتو د نوموړی اکاډیمی له خوا چاپ شو چه لهجوی کلمات په کښی راوړل شوی دی .

په اوسنی وخت کښی د کابل ښار دافغانی ملی ژبی په جوړیدو کښی مهم رول لوبوی ځکه پهدې ښار کښی د پښتنو دمختلفو قبایلو نمایندګان اوخلك اوسیږی .

ډیر لوی کار هغه ګروپ په غاړه لری چه نومونو او اصطلاحات وضعه کوی ددوی وظیفه داده چه دولتی،علمی او تخنیکی اصطلاحات ددی، دخارجی او اقتباسی

کلماتو په ځای پښتو اصطلاحات انتخا بوی ۰

په دی شلو ورو ستیو کلو نو کښی دوه محلی دپردیو لغاتو نه د پښتو دسو چه والی دپاره کوښښ وشو، لومړی محل داکوښښ ددوهم لوی جنګ په وخت کښی ؤ او دوهم محل تقریبا لس کاله وړاندې ؤ ۰

دژبی سو چه والی دپر دیو هغو لغاتو نه چه معنی یی د عامو خلکو د پاره ښکاره نه وی یو طبیعی کار دی مګر کله کله داسی پیښیږی چه مثلا دعربی اقتباسی کلمی په لری کیدو سره بله کلمه چه پښتو نه وی لکه هندی منځ ته راځی ۰ په دې موضوع کښی ګل پاچا الفت اصل حقیقت ته رسیدلی دی او د امو ضوع یی حل کړې ده، دی لیکی :

(ځینی وائی پښتو باید سوچه کړو . پردی لغات ترینه وباسواو یوټکی فارسی یا عربی په کښی پری نږدو .

دانظریه په ډیرافراط بناده او داکار کیدونکی نه دی، په دنیا کښی داسی ژبه نشته چه پردی لغات په کښی نه وی اونیلی اوریښی یی له نوروژبو سره تړلی نه وی، جهان اوس دیو کور غوندی دی او د ملتونو فرهنګی او اجتماعی تعلقات ورځ په ورځ زیاتیږی ،اوس دهرچا غږ د بل غوږ ته رسیږی اونا اشنا آوازونه له یو بله اشنا کیږی، هره ژبه له بلی نه څه اخلی اوڅه ورکوی، داولسونو دګډ ژوند سیاست په ژبو باندی هم تاثیر لری اوپردی لغتونه خپلیږی ، هغه وخت چه هیوادونه یو له بله ډیر لری وو او اولسونه به یو دبل په ژبه ښه نه پوهیدل بیاهم په ژبو کښی دخیل کلمات موجود وو او دلغاتو په نړۍ کښی معرب، مفرس،مفغن الفاظ پیداشوی وو ،نو اوس داختګه کیدای شی چه په پښتو ژبه کښی دی پر دی لغات نه وی ، هغه نوی معنی ګانی او نوی مفهو مونه چه په جهان کښی اوس راپیداکیږی طبعا په پښتو کښی نوم نه لری او دانشی کیدای چه ټولو ته دنوو اختراعاتو په شمول په پښتو ژبه کښی نوی نومونه پیداکړو.

که محوك په دی فکر کښی وی چه مونږ دی له نورو ژبو نه څه نه اخلو او یوازی پښتو لغتونه دی استعمالوو ددی معنی داده چه خپله ژبه دی محدوده وساتو او خپل فرهنګه دی په ډیر ابتدائی حال پریږدو، دا فکر باید له مغزونه وباسو او هیڅکله داونه غواړو چه په پښتو کښی دی د خپل او مفغن کلمات نه وی مګر ددی معنی دا نه ده چه مونږ به د پښتو موجود او مستعمل لغات غورځوو او په عوض کښی به یی پردی لغات بی ضرور ته محض دتفنن دپاره راوړو ځکه چه د اکار ژبی ته زیان رسوی بلکه ژبه به مرور دزمان محوه کوی.....)

د افغانستان د صدارت عظمی تحریراتو رسما اعلان کړی وچه د ۱۹۶۰ کال د جنوری د میاشتی نه خپل ټول کارونه په پښتو اړوی او ټول دوایر چه ورسره په تماس کښی کیږی خپله مراوده دی ضرور ورسره په پښتو وکړی. د ۱۹۶۰ کال دمارچ په څلورمه نیټه چه کوم اسناد د افغانستان او شوروی اتحاد په منځ کښی دکلتوری همکاری په باره کښی خروشچف او د افغانستان صدراعظم امضا کړی وو هغه په پښتو وو.

شك نشته چه په ټولو دولتی مقاماتو او په عمومی ژوند کښی به د پښتو تعمیم خپل نهائی ځای ته ورسیږی. ددی خبری پوشاهد دادی چه پوهاند محمد اصغر د ۱۹۵۷ کال دستمبر په پنځمه پښتون لیکوال حمزه شنواری ته ویلی دی:

مونږ په دی مکلف یو چه دلسو کلونو په جریان کښی دی په افغانستان کښی داسی ځوك پیدا نه شی چه هغه پښتو ونه شی ویلی.

د پورته اوږدی وینانه دا نتیجی په لاس راځی:

۱ـ د افغانی ملی ژبی جوړیده او انکشاف د خپلو مخصوصو شرطونو لاندی صورت نیولی دی یعنی په تیره زمانه کښی دځینو علتونو له کیله دغه د پښتو انکشاف بطی و یو علت دا و چه دمملکت اقتصادی وضعیت سست و، بل دا چه د پښتنو قبایلو په منځ کښی پخوانی داستغنا او بیلوالی عادات موجود و،

دریم داچه د نونسم قرن په آخر کښې استعمار پښتانه دوه ټوټې کړل او بل داچه د فارسی ژبی نه د دولتی ژبی په حیث استفاده کیده.

۲ـ په اوسنی وخت کښې د حکومت یولړ اقداماتو ـ د باشاه د ۱۹۳٦ کال فرمان چه پښتو یی د دولتی ژبی په حیث اعلان کړی ده، د مملکت د اقتصادی او کلتوری چارو پرمختګونو او د پښتنو بیداری. دی ټولو علتونو په فوق العاده ډول سره د پښتو تطبیق ته وسعت ورکړی دی.

۳ـ د اقتصادی او کلتوری چټک جریان له کبله د پښتو ټولی لری او نژدی سیمی سره په تماس کښې شوي چه دی کار په زیاته اندازه سره د پښتو ادبی ژبه او لهجی یی یو تر بله سره نژدی کړی.

٤ـ په دی نژدی کلونو کښې به د ادبی تلفظ د قواعدو کار شروع شی، سره د دی چه مشکلات شته خو افغانی لیکوال، پوهان او ښوونکی به دا لوی او د افتخار نه ډک کار سرته ورسوی. پای

د ادب پوهنځی

دخان غازی درګیوال لیکنه

په پښتو ادب او شاعرۍ

کښې انقلاب په کار دی

پښتانه شاعران او ادیبان په خپلو شعرونو او لیکنو کښې د «لیلا» او «مجنون» تشبیهات استعمالوی اګرچه ما دا اوریدلی دی چه «مجنون» د «ملتان» یو پښتون ؤ او «لیلا» هم د هندوستان «سبز خطه» یعنې توره ښځه وه لاکن په دې بیان باندې څه دلیل تر اوسه پورې ما نه دی پیدا کړی ، لنډه دا چه «مجنون او لیلا» دواړه د پښتون قوم نه ، نه ؤ نو هر کله چه دوی پښتانه نه دی ، نو ولې پښتانه شاعران او ادیبان په خپلو اشعارو او لیکنو کښې د مجنون او لیلا تشبیهات استعمالوی مثلا وایی فلانکی د آزادۍ د لیلا «مجنون» دی ، حالانکه په کار دادی چه فلانکی د «آزادۍ د درخانۍ آدم دی» وویلی او ولیکلی شی ، ما چه کوم غزل دا جمل خټک په غزل لیکلی په هغه کښې می «آزادۍ» ته (درخانه) او په آزادۍ مین ته می آدم خان

تشبیه ور کړې ده ، غزل و ګوری او که خوښ مو کړ نو په کابل مجله کښې یې خپور کړی ؛ .

غزل

په غرو کښې اوسه «تمنا» د «جام جم» مه کوه
ته یې «پښتون» د «پلاوو نو» هر ګز غم مه کوه
خبره ده ټوله دنیا د «پښتون» په تو ره
د څو پیسو د پاره بل چا ته سر خم مه کوه
تر دې «امو» نه تر «اټک» پورې سرحدی داستا
خبرې خوشې ته پښتو نه د تور خم مه کوه
که په (ربښتیا) یې «لیونی» د آزادی (درخانی)
ځان «آدم خان» کړه هیڅ خطر داټم بم مه کوه
په تا که عشق کښې تکلیفونه د «دوزخ» «۱» تیر یږی
جنت به مومی ته پروا د «جهنم» مه کوه
ساقی دې راوړی نن «شراب» خو «د کابل انګورو»
که څوك «شرابی» راته وایی ته یې غم مه کوه
عاشق هغه دی ، چه وفا ، جفا پروا نه لری
ګپلی ، شکوې په محبت کښې ته «خادم» مه کوه
تنده ، ما تیږی د «اټک» او د «باړې» په او بو
ما ته صفت ته د «ګنګا» او د «جیلم» مه کوه
«فخر افغان» «۲» سره می ولیدل په سرو جامو کښې
ضرورت نشته اوس علاج می په ملهم مه کوه
عیشونه کړه ته د اغیار و په محفلو کښې نن
په ماچه هر څه کیږی یا ره زما غم مه کوه

ته خو نن «خانه» د کابل په ګلرخانو کښې یې .

صفت په دوی کښې دې هلمی د تورصنم مه کوه

۱ـ ددې شعر نه اول مطلب خو دادی چه د زحمت دد وزخ نه (جنت) موندلی کیږی بله دا چه دا انګریزی محاوره ده چه د «جنت» لاره په «دوزخ» ځی یعنې د تکلیفونو نه ورو سته جنت (راحت) دی دا سی دانګریزی یوه بله محاوره هم ده چه دوزخ ته لار په جنت کښې ځی یعنی د عیش او عشرت «جنت» نتیجه دوزخ دی .

خان غازی کابلی در کیوال

۲ ـ ما فخر افغان خان عبد الغفار خان سره د کابل په هوایی اډه کښې غاړه تر غاړه وکتل بیامی په سرو جامو کښې په «ګلخانه» کښې ورسره وکتل په دې شعر کښې دده ملاقاتونو ته اشاره ده یعنی زما دزړه زخم د «فخر افغان» فراق کښې ؤ ، او کله چه می فخر افغان ولیدنو اوس ماته د «ملهم» ضرورت نشته ـ

زما په دې غزل کښې د «جیلم» او د «جهنم» او نورې قافیې هم نوې دی او د «کابل انګور وشراب» او د ډهلی «تورصنم» دا ټول شیو نه نوی دی چه د بل چا دې ته فکر او توجه نشی کیدی ، زه امید کومه چه زما دا لیک او غزل به دقبولیت په نظر وکتی شی او په کابل مجله کښې نشرشی

خان غازی در ګیوال

پښتون جرګه هند ، رحمان کوڅه

د هلی هندوستان

د پښتو لرغونی نثر

دخوشحالخان بیاض

د نثر نمونه :

په دا منځ کښې خبر راغی چه شجاعت د ډیر لښکر سره په ګنداب کښې ډوب شو جسونت سنګه وتښتید ایمل خان لویه فتح وکړه ډیر پښتون په دا کار خوښ شو شیر محمد خوار حیران شو هیڅ یې نه زده ووچه څه وکړم - شجاعت خان د ده وسیله ؤ ورك شو دې مغل ؤ دمغل زور کم شو دریاخان لره چه زما خطونه ورغلل مصلحت یې دا وکړ چه د نوښار کوټ فلانه مات کړ .

ایمل خان شجاعت خان ډوب کړزه به ګوښې په کوهاټ ورشم - دبل چانوم راسره نه وی دا فتح به زما په نام شی .

په آخر د جمادالثانی د تیرانه راروان شوم راز علی حسن علی موسی وغیره ښه سواره بدرقه راسره وو - په بازار راغلم هواته ایمل خان په منځه راغی سره کښیناستو دی تیراته راته وې چه راسره جاروځه ماوې چه که زه پو هیداې چه ته به رایشی زه به ستاو راتلوته معطل وم . اما اوس روان یم افرید یوستنولم ستون نه شوم اوس جاروځم څه خو عیب غوندې شی - یو څو خبرې مو سره وکړې روان شوم افریدې می سره رخصت کړل - سروپاې بهامی هر کدام ته ورکړه - د څخو بی په لار ایمل خان سره ډکی لره راغلم - شپه می هور ته تیره کړه سبا بیړی راغله پورې شوو ورو ورو مومندو کښې تلو واړو ښه پښتو نولی کو له هر ځای به په ښه روش راغله ضیافت وغیره به یې ښه وکړځای په ځای راسره ووترخپل حدود نه یې تیرولو مهمند ښه عالم ولید شه خصوصا نظر مهمند عجب ځوان ؤ کمال خان د ده ورور زه ډیر پرې مین شوم مرد ونګ ډیر پکښې لیده شه (۱)

---

(۱) - خوشحال خټک د دوست محمد کامل اثر - د پیښور چاپ ۳۹۶ مخ .

محمد مؤمن "پټوال

ارمانجن مین

څوکاله دمخه دوه مینان دوه غم شریك ، داسی غم شریك چه د زړونولاره یی یوه او دزړونو کوڅی یی سره شریکې وی ، په یو اولس کښی سره ووسیدل چه دیونوم زیړګل او دبل نامه ګل مکی وه زیړګل دبرکلی او ګل مکی دکوزکلی وه. دادوه کلی ډېر نژدی څنګ پرڅنګ پراته وو ددی دوه کلو جرګې مرګې غونډې اوټولنې به یوځای کیدی ،میړی او ژوندی یی سره شریك وه ددواړو کلو خلکو له یوې چینې اویو کاریز څخه اوبه څکلې ، لنډه داچه به ټولو قومی دودانو کښی سره شریك وو. هغه وخت چه لا زیړګل او ګل مکی واړه ماشومان وو نو ددوی دواړو په منځ کښی ډېره مینه او محبت و ګډېږ به چه د کورونو څخه ووتل نوتر لمر لویدو پوری به دواړو یو ځای لوبی کولی او یودبل څخه به نه جلا کیدل ، ډېره کلکه ملګری تیاپی لرله ، دوی دواړو په خپلو منځو کښی یو بل ته ورور اوخور ویل ، ددوی میندی او پلرونه هم ددوی په دوستی باندې خوښ وو پلر و نه یی سره نژدی خپلوان وو اودماما زامن کیدل شپې ورځې ، میاشتې او کلونه تیرشول زیړګل او ګل مکی دواړه اوه کلن شول .

زیړګل خپل پلار په ښوونځی کښی داخل کړ زیړګل به دګډېږ له خوا ښوونځی ته ته اوپه دولس نیمی بجې به بیرته له ښوونځی څخه راته، کله به چه دښوونځی څخه راغی نوژړه به یی آرام نه کاوه او دګل مکی دکلی مخې ته به ور ته بیا به ګل مکی ورسره یوځای شوه اوهغې ته به یی هغه شیان چه ده په ښوونځی کښی لیدلی یا اوریدلی وو هغه به یی ټول ګل مکی ته واوروول په دې شان سره شپږ کاله تیر شول او ګل مکی هم لږ وډیر خط اوکتاب لوستل یاد کړل، زیړګل له شپږ م

ټولګی څخه فارغ شو . داوخت نو دوی دواړه په ځان وپوهیدل یعنی د ځوانی بوی ور باندې لګیدلی و دوی دواړوته خدای داسی ښایست ورکړی و چه دښایست ساری یی په هغه شاو خواکلو کښی نه لیدل کیده. زیړګل نور ښوونځی ته دوام ورنه کړ او دګل مکی دمینې او محبت په لومه کښی ونښت او ګل مکی هم دزیړګل سره دزړه مینه لرله، ګل مکی به چه زیړګل ونه لیدنو د زړه کور به یی تالا و لاو او وخت به پرې ښه نه تیریده او بی دزیړګل د پاکی مینې یی بل ارمان نه درلوده.

هو ددوی دواړو مینه پاکه او سپځلی وه او له هیچا یی پروا نه لرله، رښتیا په پښتو کښی یو متل دی (چه زر پاك وی له اوره یی څه باك وی) څه رنګه چه ددوی زړونه پاك وو نو د خلکو د خبرونه یی په زړونو کښی څه نه راتلل او خپلې شپې ورځې یی ښې تیرولې ځکه چه دوی لا په دې نه پوهیدل چه آیا په مونږ پورې خلك خبرې کوی او که نه او که کوی یی نو د څه دپاره. خیر په هر صورت کله چه ګل مکی په نوی ځوانی راغله نو د حسن جلوه یی دومره ډیره شوه چه لرو برخلك ورته ټول حیران وو دکور کلی خلك خولا څه کوی چه د اولس خلکو به د ګل مکی د ښایست او ښکلا خبرې کولې دګل مکی جګ قد دنګې غړی، پراخ وچولی ، ګلابی مخ ، سپین غاښو نو جګې پزی ، نریوشونډو ، تورو بادامی سترګو او تورو اوږدو ویښتانو به دځلمیانو په کور دغم غوبلې ګرځولی د ګل مکی د ښایست هنګامه به ټول اولس کښی خپره شوه هرچا دا آرزو لرله چه د ګل مکی د پلاره سره خپلوی وکړی او ګل مکی خپل زوی ته وغواړی ، مګر دګل مکی په زړه کښی د زیړګل دمینې غشی خښ و او بی د زیړګل نه ورسره دبل چا سودا نه وه او دهمیشه دپاره ورسره دزیړګل پاکه مینه ملګرې وه او د هغه دمینې سره به یی مشغولا وه .

په دې وخت کښی زیړګل هم دنوی پسرلی کالی واغوستل او نوی وخت ور باندې راغی دزیړګل ښایست او ښکلا دکور کلی له ځلمیانو څخه ډیره زیاته وه دزیړګل کړه وړه خبرې اترې ټولې په کنډه وې ، دزیړګل ګوزاره دکور کلی خلکو

سره دومره ښه وه چه هرچا به یه ښه نامه یاد اوه. یوه ورځ د زیړګل پلار زیړګل ته وویل:

چه زویه هغه بله ورځ په حجره کښې ستا په باره کښې ډېرې خبرې وشوې او خلکو ویل چه زیړګل په ګل مکۍ باندې مین دی او د ګل مکۍ سره مینه لری آیا دا خبره رښتیا ده او که څنګه، زیړګل له ډیره شرمه خولې؟ خولې شو او د پلار د خبرې ځواب یې ور نکړ، چپ باتی شو او هیڅ یې ونه ویل ځکه چه د پښتنو په کهول کښې دا یوه طبعی خبره ده چه کشر به د مشر په مخکښې خبرې نه کوی او مشر ته به ځواب نه ورکوی خصوصاً په داسې خبرو کښې نو ځکه زیړګل هم څه و نه ویل.

لیکن د ګل مکۍ د نامه په اوریدو د زیړګل په زړه دغم غوبلې وګر زیدې تاو راتاوشو، اګرچه په ظاهره یې څه نشو ویلی مګر د ګل مکۍ مینې په پټه کښې تخناوه او د پټې خولې خندا یې کوله پس له ډیر و خبرو څخه پلار ورته په ډیر قهر وویل چه زیړګله له دې کار څخه لاس واخله چه بیا دی په هغه طرف ونه کورم.

د پلار دی خبرو د زیړګل د عشق په اور باندې تیل واړول او لمبې یې نورې هم پورته شوې. مخکښې به یې که ګل مکۍ ونه لیدله نو دومره پروا یې نه وه لیکن د دې خبرو نه وروسته به یې هرومرو غوښتل چه ګل مکۍ ووینی شپې ورځې تیریدې وخت ډیر تیرشو په ګل مکۍ باندې له هرې خوا مرکې کیدلې مګر د هغه پلار نه غوښتل چه ګل مکۍ بل چاته ورکړی او ټولو مرکچیانو ته یې د نه ځواب ورکاوه ځکه چه هغه غوښتل چه خپله نیاز مینه لور د خپل ماما زوی ته ورکړی، لیکن بدبختانه چه د مأما زوی ترینه په یوه خبره کښې خپه شوی ؤ او هغه هیڅ نه غوښتل چه ګل مکۍ خپل زوی ته وکړی او دا یې هیڅ په زړه کښې نه تیریده چه دوی دواړه ماما زیان دی بیا سره خپلوان شی، اګرچه د ګل مکۍ د پلار په زړه کښې ورته هیڅ نه وو او همیشه یې ورسره راشه درشه لرله، لیکن د زیړګل پلار نه غوښتل چه د ګل مکۍ د پلار سره دی نور تله راتله هم وکړی هو! بده خبره که لږه هم وی خو درد یې ډیر وی. په دی منځ کښې یو کال نیم بل هم تیرشو د زیړګل پلار د ګل مکۍ د پلار کره ورنه رغی لږه خوا بدی یې

په ډیره بدله شوه . داوخت نوداسی وخت دی چه دداړو مینانو د ځوانۍ جوش دی یوه شپه دزیړګل مور او پلار او نورو خپلوانو وویل چه راشیء دی زیړګل ته کوژده وکړو ځکه چه اوس دی هم ځلمی دی اوشته مو هم شته او هر څه مو دلاسه کیږی، ټولو وویل ډیره ښه ده او ډیره ښه خبره ده ښه نو څوك ورته غواړیء موریی وویل چه ولی ، خو ګل مکۍ به ورته وغواړو ګل مکۍ خپل پلار د همدې د پاره تر اوسه پورې ساتلې ده او بی دزیړګل نه یی بل چاته نه ورکوی ، نو هماغه به ورته وغواړو بل څوك څه کوو ؟ دې خبرې د زیړګل په پلار ډیر بد تاثیر وکړ او ښځی ته یی وویل چه کښینه او کلاری کښینه ! که نه خوله به دی در ماته کړم ، په دې باره کښی بیا خبرې ونکړی او خوشی می اعصاب مه راتوره وه زه هیڅ نه غواړم چه د خپل مامازی سره دی خپلوی وکړم . جرګې ورته مخ واړاوه چه ښه څوك ورته غواړی او څوك دې په زړه ده ؟ هغه ورته وویل چه د ګل روز خان لور یا دسکندر خان لور به ورته وغواړو خلك ډیر ښه خلك دی په منډه یی راکوی

او جنګۍ هم ښې اخلاقی جنګۍ دی نو په دی دواړو کی مو چه هر یوه خو ښه وی هغه به ورته وغواړو څه رنګه چه مو رد اولاد په حق کښی ډیره زړه سواندې او مهربانه وی نو دزیړګل مور بیا وویل چه زیړګل بی له ګل مکۍ څخه بل څوك نه کوی ، که تا سو هر څه ووایی هغه یی نه منی . د زیړګل پلار بیا په قهر شو او خپلې ښځې ته یی وویل چه ښځې کلاره شه او دا چټی خبرې مه کوه زیړګل خو څه د خپل واك نه دی چه هغه دې یې نه منی، څه چه زه وایم هغه به یی هر ومرو منی او که نه داسی ځای ته به یی ورك کړم چه بیا یی نوم هم معلوم نه شی . له ډیرو خبرو څخه وروسته ټولې جرګې د زیړګل پلار ته مخ کړ او ورته یې وویل چه راشه دا دزیړګل دمور خبره ومنه او ښه ده ځکه چه زیړګل او ګل مکۍ دواړه سره د زړه مینه لری او ټول خلك دهغوی په مینه او محبت یاندې خبردی، دزیړګل پلار دجرګې خبره ور لنډه کړه او ورته یې وویل چه دا

کار هیڅ نه کیږی او په دې کښې سرونه مه خوږه وی ؛ زه چه څه وایم هغه به کیږی
او بس. ټولې جرګې وویل ښه دی تاسو خو زیرګل هم راو غواړې چه هغه څه وایی او که نه؟
موریی وویل زیرګل به هم راشی خود پښتنو بچی کله داویلی شی چه ما ته پلانګی
جلی و کړی ؛ او که کوم یو پیداشی نو هغه ته خلك بد سترګی وایی خو بیا هم
څه چه د جرګې خوښه وی هغسی وکړی ؛ فیصله په دې وشوه چه زیرګل دی راشی او
پو ښتنه دی ځینی وشی چه څو کك یی خو ښه ده او څو کك کوی هما غه ؤ چه
زیرګل جرګې ته حاضرشو، خبرې اترې له هری خوا شروع شوې چاویل چه هغه پلانی
ورته وکړی ؛ چا ویل چه نه هغه بله ورته وکړی ؛ مګر پلار یې وویل چه هغه
د ګل روزخان لور یاد سکندرخان لور به ورته وکړو، زیرګل نور هیڅ ونه ویل
فقط دومره یې وویل چه زه هیڅ ښځه نه کوم . پلار او څه نور و خپلوانو یې ورته
وویل چه بچیه اوس زلمی یی او باید ښځه درته وکړو څکه چه له یوې خوا دی مور
او پلار او مونږ ټول خوشحالیږو او له بلې خوا به ستا ژوند ښه تېر شی . لیکن
څه رنګه چه په دې جرګه کښی د ګل مکی نوم د زیرګل د پلار دو یرې هیچا په خو له
نشو اخستلی او به دې دومره جنکو کښی چه یادې شوې زیرګل د ګل مکی نوم
هیڅ و اته ورید نو بیایی وویل چه زه هیڅ واده نه کوم. پلار یی ورته وویل چه
زیرګله! ته نو د خپلې خوښې نه یی چه مونږ به ستا په خو لې پسی ځو او ته چه هر
څه وایی هغه به مونږ کوو دا هیڅ کیدو نکی نه ده او ته زمونږ پلار کید لی نشی
لاړ شی ؛ او هغه د ګل روزخان لور ورته و غواړی ؛ کله چه زیرګل د پلار خبرې
واوریدې نو د ناامیدی څپې یی په زړه باندې راغلې سمد ستی له جرګې څخه ووت
شپه په شپه له خپل کور کلی څخه بهرشو او یو نامعلوم ځای ته لاړ کله چه زیرګل د خپل
وطن څخه بی وطنه شو نو هغه سره بی د ګل مکی د سو دانه بله سو دانه وه همیشه به د ګل مکی
په غم کښی ډوب ؤ بیچاره زیرګل له ځانه سره هیڅ نه ؤ وړی خواری مزدوری
به یې کوله او خپلی شپې به یې ور باندې سبا کولې نور هیڅ شی ور سره نه ؤ یوازی او

یوازی د ګل مکی خوږې خبرې او د هغې پاکه او سپېڅلې مینه ورسره وه ګل مکی چه د دې حاله خبره شوه چه زیړ ګل وطن پر یښود نو په زړه یی دغم قافلې راغلې شپه او ورځ به ژړیده خوب او آرام یی هیڅ نه ؤ د هیچا سره یی خبرې نه کولی او په ځانګړی ځان به دغم په ټال زنګیده، هغه توری با دامی سترګې یې په ژړا سپینې شوې او هغه سور سپین ګلابی مخ یې لکه زیړ زرغفران داسی شو، مور او پلار به چه د ګل مکی بڼې او څیرې ته کتل نو د هغې هغه ښایسته څیره زیړه بریښده، مور او پلار یې د ګل مکی په دارو درمل شروع و کړه مګر دارو هم ورته هیڅ فایده و نه رسوله او تل به د زیړ ګل په غم کښې کړیده، ګل مکی به د ځان سره ویل کاشکی چه دې غمجنې دنیا ته نه وای راغلې یا کاشکی د زیړ ګل سره یو ځای وای، که د مور او پلار سترګو ته و نه ګورم او د ټیر بدنامی مې نه وای، د پښتو او پښتونولی شرم او پیغور نه وای نو ما به یوه شپه هم بی زیړ ګله نه وه تیره کړی څه و کړم چه دا ټول شته او زه هیڅ نشم کولای ځکه چه ښځه بوټی یم، په دې خبر و به یې خپله شپه سبا کوله او د زیړ ګل په رنځ کښی به کړیده.

کله چه د ګل مکی پلار د زیړ ګل د پلار څخه ناامیده شو چه ګل مکی د زیړ ګل د پاره نه غواړی، نو ښځی او میړه دواړو سره مشوره وکړه چه ګل مکی چا ته ورکړی اګر چه په ګل مکی باندې له هرې خوا مرکې کیدلې لیکن هغه یې چه مور او پلار غوښته د هغو د له خوانه کومه غوښتنه نه وه، په همدغو ورځو کښې د ګل مکی د تره زوی بادر خان چه یو ښا یښته زلمی ؤ له سفره راغلی ؤ، بادر خان د پلاره یو زوی ؤ بل کوم ورور یې نه در لود ډیره هستی یې لرله، د ګل مکی مور او پلار مصلحت وکړ چه را شه دا لور مو بادرخان ته ورکړو ګوندې خدای دا نا چوړی لری کړی ځکه ډیر ځله داسی شوی دی چه ډیره سخته ناجوړی د خوښی په وجه د انسان څخه لری کیږی او صحت مند کیږی. هماغه و چه د ګل مکی نکاح یې خپل د تره زوی یادرخان سره و تړله، لږې شپې وروسته یې واده جوړ شو، ګل مکی واده شوه

مګر هغه د ګلاب غوندې تازه بڼه یې مړاوې ښکاریده، ورځ په ورځ خرابیده رغیدن یې نه ؤ او د زیړګل په بیلتانه کښې کړیدله، اګر چه د ګل‌مکۍ ظاهری واده جوړ شو او دظاهرې بڼې څخه یې دا معلومیده چه باید ګل مکۍ خوشحاله وی ځکه چه د واده ورځی د خوشحالی ورځی دی او د خوشحالۍ په ور ځو کښې غم خپل نیلی نشی زغلولی لیکن ګل مکۍ د پخوانه زیاته د غمو په دریاب کښې ډوبه شوه او په زړه باندې د غم څپې تلې او راتلې د زیړګل مینې او محبت ور باندې داسی چارې کولې چه ګړۍ په ګړۍ ور باندې بی هوشی راوړله، کله جوړه او کله ناجوړه په دی قسم یې شپې او ورځی تېریدلې. د ګل‌مکۍ د واده لا ډیره موده نه وه تیره شوې چه بادرخان سفر ته لاړ او ګل‌مکۍ یې د پلار کره پریښوده څه موده پس د بادرخان د مرګ اوز کلی ته را و رسید او هغه با د ر ځلمی چه خلك یې د ځلمیتوب په کیسو نه مړیدل په توره ټپۍ کښې مړشو، داوخت د اسی وخت ؤ چه په ګل‌مکۍ کښې فقط هماغه سا قدری ښکته او پورته کیده او نور توان یې نه ؤ د ګل‌مکۍ مور او پلار له یوې خوا د ګل مکۍ په نا جوړۍ غمجن وو او له بلې خوادې ناڅاپی پیښې داسی وزپل چه له خپله ژوندۍ بیزاره شوو. دوې څلور ورځې ورته خلك د دعا د پاره تله او راتله چه د و یر نې ټغر ټول شو نو د ګل‌مکۍ وضعه ورځ په ورځ خرابیده او مرض یې زیاتیده کله به چه په ګل مکۍ باندې درد زور شو نو زګیروی به یې وکړ او په زګیروی کښې به یې بی اختیاره د زیړګل نوم خولی ته راغی او داسی به یې وویل چه وای زیړګله؛ په دې قسم سره دوه درې میاشتې نورې هم تیرې شوې آخر د ګل مکۍ ځونی خاورې شوه او په ابدی خوب د زیړګل په تمه و یده شوه خو زیړګل بیا کلی ته رانه غی نو خدای خبر چه چیر ته به وی، ژوندی به وی او که مړ؟ پای

راغلی لیکونه

د دډاکټر واج سیک سکالماو سکی دلیک
پښتو ترجمه
د پولینډ له کراکو څخه
ښاغلی محترم!

ډیره عفو غواړم چه د پښتو په ځای په پارسی باندې خط لیکم سره د دې چه ستاسې ښکلی ګرامر را رسیدلی دی خو لا اوس هم زړه نشم کولای چه دغه خط په پښتو ولیکم. ما په پولینډ او آلمان کښې دژبپوهنې تحصیل کړی دی او اوس د پولینډ د کراکو په پوهنتون کښې کار کوم. او دلته داد بیاتو په پوهنځی کښې د پارسی درس ورکوم.

له ډیره وخت نه ستاسې د هیوادله ژبې او کلتور سره علاقه لرم. او زړه مې غواړی چه له نژدې څخه ورسره آشنا شم د سویس ژب پوهاند رویدار چه د کابل پوهنتون سره علمی روابط لری دوه کاله پخوا ماته ویلی وو چه د کابل په پوهنتون کښې دژبپوهنې په باره کښې یو کنغرانس ورکړم.

مګر بیا هم د دغه کار څخه څه پته معلومه نه شوه.

سږ کال زمونږ په پوهنتون کښې دلومړی ځل د پاره د پښتو دزده کړې مضمون شامل شوی دی او دغه کار زما په غاړه اچول شوی دی په پولینډ کښې د پښتو متون او کتابونه نه پیدا کیږی زه د پښتو

یو ګر امر اوقا مو س لرم خو هغه هم په روسی ژبه دی. نو ځکه له تا سې څخه ډیره هیله کوم چه یو څو پښتو کتا بو نه او یا یو څو اخبارو نه ما ته راولیږئ. یو څو زړې مجلې او اخبا ر و نه هم زما دپاره بس دی.

ډ یره بښنه غو اړ م چه تا سی ته دغه زحمت در کوم.

دغه کا ر ډیر اهمیت لری. ستا سی کو مك زمو نږ په هیواد کښی د پښتو دتد ریس دجا ری کیدو ډیره ښه وسیله ده.

په آ خر کښی بښنه غواړم او نور زحمت نه در کوم.

پښتو ټولنه:

مو نږ ستاسی ددغه لو ی اقد ام او مینی څخه تشکر کوو او د همیشه دپاره دکتا بو نو کومك ته تیا ر یو. سمد ستی مو یو څو کتابو نه درواستول امیددی چه در ورسیږی.

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
تېلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دتېلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراك بیه

(په افغانۍ)

په کابل کښې ۴۰
د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :
۱- کابل ۲۰
۲- اطراف ۲۳
د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره
دیوې ګڼې بیه : ۴
د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي
د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك
او اطرافي نمایند ګیو کښې یې : ۷۱۸۷
داشتراك بیه په اداره کښې هم اخیسنله کېږي

(۵۴۲)

پرله پسې ګڼه

(۹)

دولتی مطبعه

KABUL

Monthly Journal Of The Pashto Academy

Sociology, Art and related Fields.
Publishes articles in Pashto on Literature, Philosophy, Philology

2 - JUN 28
Copy 1965

President of the Academy Pohan
Reshteen
Editor: M. Moman Patwal
Address Pashto Academy
Kabul Afghanistan